# د زندان یادونه



Ketabton.com

## شمس بونیری

# زندان یادونه

خپرونکی ،
د سرحدونو چارو وزارت
د نشراتو او فرهنگی چارو ریاست

PROPERTY OF
ACKU
2693

۱۳۶۷

شمس بونیری

دکتاب نوم: دزندان یادونه
دچاپ شمیر: (۲۰۰۰) ټوکه
دچاپ ځای: دولتي مطبعه آفسیت
دچاپ کال: ۱۳۶۷
گڼه: (۲۸۷)

Ketabton.com

# ترون

«د هغې قديمې او ګمنامه فلسفې په نوم چې هغه دا خبره زما د ذهن په پرده ثبت ده، دا سې بې وقوف به څوک وي چې د امن په ځای جنګ ته ترجيح ورکړي ځکه چې په جنګ کې بوداګان، پلاران خپل ځوانان بچي ښخوي او په امن کې ځوانان بچي خپل بوداګان ښخوي»

Ketabton.com

# شمس بونیري

## دانقلاب او سولي شاعر

دپښتو ادب خیره او انسان پاله خاوره دهغې رواني چینې مثال چې دسلګونو او زرګونو تږو تنده ماته کړي، بیا هم دوچیدو ویره یې نه کیږي او هغه ګلشن ته ورته ده چې د رنګ او بوی یو کاروان یې له رباطه لیږدي، نوبل یې خاخا او روي.

همدغې پاک لمنې مور، د پښتنو خاورې، هم دخوشحال خټک په څېر آزادۍ غوښتونکي سرښندي زيږولي دي، هم ورحمان بابا په څېر د کلام اعجاز خاوندان او هم دحمید مومند او کاظم شیدا په څېر نازک خیال شاعران ورته په غېږ کې رالوی کړي دي. دغې ورځې دغه پالونکې مور، دخپلو پښتنو غیرتي بچیو ډیره بیړه ته ورسیده.

دا هماغه پښتنه غیرتي مور ده چې دانګریزانو دسرڅخه و خیمانو او دوطن د آزادۍ د پټنګانو مولانا فضل محمود مخفي، عبدالمالک فدا، عبدالخالق خلیق، محمد اکبر خادم او داسې نورو بې شمیره شاعرانو د زړه زړونو دیار ورکړي.

دکوږګانې ظلم او استبداد دورتېرشو او دانګریزد خونړۍ بنګیلاک پانه ظاهرا او بسته

او ځای یې ورو په ورو د مارشل لایي او نظامي سرتېرو په ځېرو کې د ملي ستم او پانګوالۍ
بنامارانو ونیو . په عربي ژبه کې یو خوان متل دی چې وایي : « هر فرعون ته موسی شته او
هر رنځ ته چېل دارو » دادی د هغو سرتېرو نظامونو د ملي ستم او د پانګوالۍ د بنامار
توري شپې پای ته رسېدې بنګاري ، هلته په سره شفق کې د بشري آزادۍ ، اجتماعي عدالت
د وروري او برابرۍ د نمرڅرک لومړي سرې وړانګې تر سترګو کېږي چې د او د پښتنو
په سره آسمان کې د انقلابي ، ادب او د سوسیالیستي ریالیزم سرې وړانګې دي .
د نړۍ ادبیات د « سوسیالستي ریالیزم » له اصطلاح او هغې له مفهوم سره د شلمې
پېړۍ په پیل آشنا دي چې د اکتوبر د انقلاب د بهاتوبې ـ شوروي اتحاد ستر لیکوال ماکسیم ګور-
کي پې نسبت اړینې دي . خو مره چې بیا د نړیوال امپریالیزم منحوسه برچه د نړۍ د غلامو
او ویده ملتونو له سره تولیده ، او خو مره چې د اکتوبر د انقلاب د سرو وړانګو څپې پراخېدلې
هماغو مره د دغو انقلابي ادبیاتو سرې وږمې هم د نړۍ ګوټ ګوټ ته رسیدلې چې د
ثور د انقلاب په بهاتوبې کې د دغه سره ادب پیدایښت او وده یې یو ښه مثال دی .
د پښتنو سیمه هم د دغه سره پسرلي د نسیم له اغېزې بې برخې پاتې نه شوه او د ختګو
مومندو ، یوسفزو ، سوات او بونیر په دښتو او غرونو کې یې د صنوبر حسین کاکاجي

Ketabton.com

اجمل خټک، سیف الرحمان سلیم، سعدالله جان برق، فضل حق شیدا او رحمت شاه سایل

په څیر سره ریډی ګلونه را وټوکول چې دادی په دې جمله کې ستر انقلابي شاعر، د سوسیا-
لیستي ریالیزم بیرغ چې، د مارشل لایي استبداد په زندانونو او ځنځیرونو کې ازمایل شوی او
پوخ شوی شاعر هم معرفي کوو چې هغه شمس بونیری دی .

هر شاعر، هر لیکوال او هر هنرمند باید د تقریظ او کره کتنې په عباراتو کې نه بلکې باید په خپله
اید یا خپل ایجاد او هنر کې معرفي شي .

دلته هم غواړو چې د شمس، زما په الفاظو کې د طلوع، ونه کړي بلکې د خپل ایجاد په افق
کې راورته شي او د هر چا سترګې روښانه کړي .

شمس یو انقلابي شاعر دی. په انقلاب ایمان لري او د مظلومو پرګنو د رنځونو له پاره هم د غه تجربه
شوی نسخه وړاندې کوي :

شمسه ! جنګ چې د محنت او سرمایې دی .

د اقتصاد په انقلاب سره ته رسېږې .

شمس په دا ګه زړیو الو ته د انقلاب غوښتنو اعلان کوي :

اې د زړې بیدارو خلکو واورئ

زه سره سپرلي، سور انقلاب غواړم .

Ketabton.com

گناه مې داده د خونې لیلاه نه

د خپلو سرو وینو حساب غواړم

د شمس طبقاتي ټولنه د ټولنیز اقتصادي تاریخ په داسې مرحله کې ده چې هم د فیوډالیزم د بقایاو ـ خانانو او سترو زمکوالو د ملي ستم د جنځ لاندې کړیږي او هم یې د دوه کوډنکي پانګوالي د نظام د زبیښناک د استحصال، ژورې دستونې وینې څښي چې په عمده توګه د پنجابي کمپرادورانو له خوا رامخ په زیاتیدو دی شمس هم له هغو او هم له دغو ژور د سره په مبارزه کې دی او وایي :

شمسه ! که سل واري کافر مې کړي څوک

سمه خبره ده چې خان نه منم .

بل ځای د مارشل لایي او پانګوالي پر ضد ستر انقلابي شهید نذیر عباسي د پانګوالي د نظام د ختم داسې زیرې ورکوي :

نه پاتې کیږي نور ، د دې نظام وروستي سلګۍ دي .

زمکه خوځه کوي چې بره آسمان اور اخستي .

اوس خپل حق نه غواړي ، هستایاران راوتي پسې

د سرمایې د دلالانو دوران اور اخستي .

Ketabton.com

شمس د هغو فیوډالي او د غو پانګوالو لیوانو نه د خلاصون له پاره د انقلابي ملګرو په

لښکې دی او د تاریخ د جبر په حکم د هغوی زوال وینی :

څو ملګری داسې ګورم چیرته شته دی .
چې وطن د دې لیوانو نه اوزګار کړی
شمسه ! بس د ظالمانو وخت په تلو دی
دا وخت نه چاته کله انتظار کړی .

شمس د یوه ستر ناسیونالیست انقلابي په توګه نه یوازې په خپل هیواد او خپلې ټولنې
کې ، بلکې په ټولې نړۍ کې د پانګوالي د استبدادي نظام اړول غواړي :

تن چې د هر تن پېټ شي ، د غیبي غم یې وسي
څۀ چې هغه راج شمسه ! په ټوله دنیا راولو

شمس یو باخبره او د نړۍ په انقلابي حالاتو ښه پوه دی ، هغه پوهیږي چې په
نړۍ کې شوروي اتحاد د انقلابونو د ملاتړ په توګه د ډاډ ځای دی ، هغه د شوونیستانو په
پوچو « انقلابي چیغو » نه غولیږي هغه د خپل وطن نظام پیژني چې ظاهراً په سر وا د باطناً په
تور د مرتجعینو اتکا لري .

ذکر که د روس دې په شال کې د کړو د جیل ته څه
هیڅ نشته خو دا یه قصیدې د امریکې ، د چین

Kotabton.com

شمس یو انقلابي دی او دیوه انقلابي په توګه په زړه کې د سولې او امن کلک پلوی دی یو ځای لیکي :

څوک چې د وطن د نام او ننګ جنازه وباسي .

دوی به خلکه څنګه د فرنګ جنازه وباسي .

دالیې د قهر سره مه ، امن غواړمه .

زه داسې جنګ غواړم چې د جنګ جنازه وباسي .

شمس د هغې نړۍ د جوړېدو په فکر کې دی چې د بمونو او جنګي الوتکو اوازونه پکې نه وي کارخانې د وسلو د جوړولو پاره نه وي ، هر څوک د ژوند سندرې وایي ، د جنګ نوم هم څوک نه پېژني ، او دا یوه تشه او توپیا او پوچ خیال نه ګڼي . دی باور لري چې د جنګي سنډا ، نړیوال امپریالیزم ، د راپرزیدو وخت دی او نړیوال سوله ټینګیدای شي .

دغه خیال په حقیقت کې بدلیدی شي

دا د جنګي سنډا ، داغل راپرزیدی شي

د جنګ اورته چې لمن وهي په زوره

دا امکان شته چې اوس جنګ په شا کیدای شي

Ketabton.com

د ظلمو په خوله زړې کې یو شعار دی

د جنګونو لوی دلال د ژوند غدار دی .

راځئ چې د مرتجعو او ظالمو واکمنو له لاسه د انقلابي شمس ټولنې بوږنوونکې سیاسي فضا هم ده په سترګو وګورو .

یو ګرانې ، بل پابندي ، دویم وحشت دی

هر طرف ته د جرنیل باچا کړې دی .

د پوځیانو حکومت دی نور څه نشته

یا زندان دی ، یا کوړې دی یا ګولۍ دی .

ګرانو لیستونکیه !

شمس بونیری د بونیر د ښکلي وادي یو انقلابي شاعر دی ، د پښتنو په پرګنو کې د بونیر ښکلې خاوره په دې شهرت لري چې ساده زړې کسان د ظالم د ظلم ، زور یا وراره د نه لرلو د مشکل ، د نیستي او لوږې د فساد نه د خلاصون په خاطر ملیته د ملتو زیاتوونه د مرستې د غوښتلو په غرض ورتله او ورځي ، خو نور به د ظالمو استثمار ګرو نظامونو ، د ټولیزې بې عدالتۍ ، د ملي ستم او نابرابرۍ د جنګ نه د خلاصون نسخې د بونیري شمس په انقلابي عمل او انقلابي شعر کې لټوي .

Ketabton.com

دغه «زندان یادونه» دشمس دوهمه مجموعه ده چې زمالاس ته راغلې ده.

داشعارو لومړۍ مجموعه یې د «سورسحر» په نامه زما په خیال په (۱۹۷۷) کال کې په پښتونخوا کې خپره شوې ده.

له ماسره متاسفانه دانقلابي شمس دبیوګرافۍ په باب مواد نشته، خو د «سره سحر» په مقدمه کې چې ده په خپل قلم لیکله شوې ده د لنډو معلوماتو او د «زندان یادونه» داشعارو په پای کې دنیټو او ځایونو له ښودلو په داګه معلومیږي چې «سورسحر» زیات شعرونه ده هغه ځای د ظالم پوځي نظام نه دفرار او اختفاء په وخت کې او د «زندان یادونه» په بیلو بیلو زندانونو کې لیکل شوي دي.

«سورسحر» په مقدمه کې د شمس د ژوند په څو یادونو لنډیز راغلو: د (۱۹۷۴) کال د مې په لومړۍ نیټه د ده د نیولو حکم صادر شو، خو د ملګرو له خوا ده ته دستور ورکړ شو چې ځان پټ کړي او پولیسو ته ځان تسلیم نه کړي. څه ورځې پټ شو خو د اشعارو لویه زیرمه یې د «خوند رنګ ګلونه» په نامه پولیسانو ضایع کړه. نور نو غرونو غرونو او بیو ځایونو ته د فرار ژوند پیل شو او یو کال او شپږ میاشتې یې د غه سخت حالت کې تیرې شوې، خپلوان یې ټول بندیان شول او ده مجبوراً په (۱۹۷۵) کال کې یې افغانستان ته پناه راوړه او د ثور د انقلاب په وخت کې

Ketabton.com

همدلته و . شمس بونیري چې (۳۸ - ۴۰) کلن زلمی به وي روښانه انقلابي راتلونکې په رخ کې لري او موږ یې د انقلابي ارمانونو پوره کول غواړو .

سرمحقق دوست شینواری

Ketabton.com

# یادونه او ارمانونه

ژوند د مسلسل جد و جهد نوم دی او جد و جهد د ژوند د رمز نوم دی او د پوهې خاوندان په دې پوهیږي چې د صحیح جد و جهد مخې ته همیشه ښکلي او اعلی مقاصد موجود وي .

ژوند څرنګه تیریږي ؟ په پټیو کې تیریږي ، په کارخانو او ملونو کې تیریږي په کالجونو او سکولونو کې تیریږي . د تحقیق په مرکزونو او د خدمت په ګڼو ځایونو کې تیریږي . د غه ژوند بالکل واقعي او حقیقي ژوند دی .

ولې ژوند خو د ظلم په ماڼیو او محلونو کې هم تیریږي . څرنګه چې د پاکو او بې ګناهو انسانانو د وژلو او لوټلو سازښونه کیږي نو دا ژوند نه دی؟

نا ! بالکل نا ! دا ژوند نه دی دا په ژوند او ژوند د خلکو پورې خندا ده دا لعنتي او طفیلي ژوند دی ځکه چې خدای پاک په قران حکیم کې ویلي دي:

« چې خدای پاک ظلم کوونکي نه غوره کوي » او د ظالمانو د پاره د خدای په

Ketabton.com

د رباړ کې د پناه او نجات لاره نشته .

د جد و جهد په دې دوران کې کله نا کله د زندان یادونه هم د ژوند یوه نه هیریدونکې حصه وي . زندان یو ځان دنیا ده ، د هغې خپل قواعد او ضوابط وي ، د هغې خپل ماښام او خپل سبا وي او د هر زندان سبا او بیګاه د بل نه جدا او مختلف وي ، ځکه خو هوښیاران وایي « د قیدي ورځې د ځلوړ دانو برابرې وي » د زندان نوم ډیر وحشتناک دی او په حقیقت کې هم ډیر د غضب ځای دی ولې د ده یادونه ډیره خوږه او نه هیریدونکې وي . موږ په ژوند کې ډیر ښکلي ښکلي خلک ولیدل چې د هغوی ځوانۍ جیلخانو وخوړې ، خو ځینې داسې خلک موهم ولیدل چې زندانونو ترینه ښکلي او عظیم خلک جوړ کړه چې نن یاد اولس رهبري کوي او یا یې د وینو ډیوې د کاروان په لاره کې بلې کړې او ابدي ژوند ته یې غاړه ورکړه او د تاریخ په پاڼو کې د تل د پاره ژوندي پاتې شول .

زه هم غواړم چې د زندانونو دا یادونه چې زما د فریادونو ـ اسویلو ، ګیلو او نخمونو علاوه نور هیڅ نه دي ، راغونډه کړم او هم « د زندان د یادونو » په نوم یې ستاسو ته پیش کړم .

Ketabton.com

یوه فیلسوف ویلي دي "چې که یو سړی په دنیا کې یوه ورځ په آزادۍ تیره کړي او بیا جیلخانې ته د ټول عمر د پاره ولیږل شي ، د دغې یوې ورځې یادونه هغه د ټول عمر د پاره په جیلخانه کې خوشحاله ساتلی شي"

کاش چې ما هم د غه شان یوه ورځ ازاده ولیدلی وای که ما د غه شان یوه ورځ ازاده ولیدله نو تضمین ورکوم ، چې هیڅ د شعور خاوند به په خپل ټول عمر کې د جیل د دروازې په سترګو ونه ویني . زما او د غـه فیلسوف د سوچ بس دغه وړوکې شان فرق دی .

د زندان د یادونه که په چا ښه لګي او که بده ددې د لیکلو او چاپ کولو نه زما واحد مقصد او مطلب دادی ، چې خلک ژوند ته متوجه کړم او هغه خلک چې د لته د قدرت او توان خاوندان دي ، هغه په دې پوهه کړم چې زندان ته خلک لیږل د مسئلو حل نه دی . که تاسو غواړئ چې ژوند په سکون او په ارام تیر شي نو داسې حالات مه پیدا کوئ چې خلکو ته د زندان د دروازې لرې شي ، بلکې هغه حالت پیدا کړئ چې د زندان دروازې د همیشه د پاره بندې شي او دا زندانونه صرف ددې د پاره وساتو چې راتلونکی نسل ددې نه سبق واخلي . په نورو الفاظو کې دا جیل خانې

Ketabton.com

میوزیم ته ورپل په کار دی .

سقراط د وخت حاکمانو ته څه بنه مشوره ورکړې وه هغه چې د زهرو جام څښلو نو هغه د اشرافیه نمایندګانو ته ویلي وو ! تاسو زما په مرګ د ځان خلاف اواز بندول غواړئ . د فرار لاره د شرافت لاره نه ده . که تاسو غواړئ چې ستاسو خلاف د بغاوت اور تیز نه شي نو ما غله ورته د خپل ځان اصلاح وکړئ .

زه د سقراط د دې وینا سره د ومره قدر له اضافه کول غواړم چې کله مونږ خوك زندان ته د دې د پاره بوځي چې د ظلم دومره زیاته شي نو د تاریخ فیصله څه بل رنګ ده .

د حضرت علی (رض) قول دی چې ( د کفر حکومت چلیدی شي خو د ظلم حکومت د چلید ونه دی ) نو ای ظالمانو واورئ خپله اصلاح وکړئ . د تاریخ فیصله په جبر مه بند وی ګني نو داسې لیوني طوفان به پیدا شي چې تاسو د هغه تصور هم نه شئ کولی - ظلم په هر حال ظلم دی او کوم ځای چې ظلم وی هلته نفرت وی او چې په کوم ځای کې د تشدد بازار ګرم دی هلته ورسره ځنګ په مزاحمت هم وجود لري .

Ketabton.com

ما ته د هغې بوډۍ خبره زياده ښه وه چې په ځنګل کې ناسته وه او
اوښکې يې کوله چې پرې د پاسه کنفوشس راغلو او ترېنه يې تپوس وکړو
چې بوډۍ ولې ژاړې! او هغې ورته ووې! په ښار کې يو ظالم سړی
اوسي، د هغه نه مې دلته ځنګل ته کډه وکړه او دلته مې خوی مړ شي
مات کړه. زه هم دلته اوسم او د هغه مړي انتظار کوم چې بيا به کله
راځي. کنفوشس خپلو ملګرو ته مخ واړولو او ورته يې ووې چې ګورئ
ظلم دومره بد شی دی چې خلک ځان په مړي ماتوی، خو ظلم نه کلو کوی.
دا خو بله خبره ده چې بعض خلک د وخت نو سره مصلحت وکړي او ځان
ظلم او جبر د ښېرونه په ډېره استادۍ بچ وساتي.

ګليلو چې د دې حقيقت درک وکړو چې زمکه ګرځي د اټلي حاکمانو په
حکم د پهانسۍ سزا ورکړ شوله، خو هغه ته و ويلي شو چې اوس هم وخت
دی ستا سزا معاف کيدی شي، خو ته ووايه چې زمکه نه ګرځي. نو هغه په
ځنځيره ووی چې تاسو ملګلو حقيقت وايي، مقدس کتابونه، په حقه وی ا
زمکه په ځای ولاړه ده.

د هغې سزا معاف شوه او د پهانسۍ د تختې نه راکوز کړی شو. نو دوستانو

Ketabton.com

هغه ته ووې چې ګلیلهٔ دا تا څه وکړل! تا د مرګ د ویرې خپله ټوله خواري او کوشش تباه کړ! نو هغه ورته ووې: په کم عقلو! زما په وینا زمکه کله ودریږي؟ دا به ګرځي او د تل دپاره به حرکت کوي. زه ولې د دې بې عقلو د لاسه ځان تېر ندې کړم.

ما هم د دې کتاب په «سندرو» او «نغمو» کې دومره قدر له ویلي دي چې د ظلم او زور نظام حتماً ختمیدونکی او بدلیدونکی دی، زما کامل یقین دی چې زما د وخت حاکمان به لکه د تېلي د حاکمانو غوندې رجعت پسند نه وي او په دومره ورو ورو خبرو به په غضب کې نه راځي او د دې قیصې په اوریدو خو مې یقین نور هم محکم شو. وایي چې یو امیر سړی نا جوړه شو، هغه خپلو رشته دارانو ته ووې چې ځایه ډاکټران او طبیبان مه راولئ، زما علاج دا دی چې زما خوی په خپلو لاسونو د ورځې وګټي او ما ته یې راکړي، زه به هغه ورځ جوړیږم. دا له ورځ د هغه رشته دار د هغه خوی ته لس روپۍ ورکړي، ورته یې ووې: دا د بلار له وروکړه ورته ووایه چې مزدوري مې کړې ده. د هغه خوی نو بیا په لاس د بلار ورکیت خواته ودرېدلو ورته یې ووې: بابا دا پیسې واخله! دا ما د اصطبل پاک...

صفايي کې ګټلې دی ! هغه پلار نوټ د کړکۍ نه ښکته سړک ته ګوزار کړه
بله ورځ د هغه بل ښتنه دا لس روپۍ ورکړې او هلک پلار ته ووی:
بابا دا لس روپۍ مې د لرګو په مزدورۍ کې ګټلې دی ! پلار د هغه سره
نوټ واخیستو او ګرم اور ته یې ګوزار کړه او هغه نه یې مخ واړولو. بله
ورځ هلک راغی او د پلار په لاس کې یې د لسو روپو نوټ ورکړو. د هغه
پلار نوټ خیرول غوښتلو، چې هلک پرې رامنډه کړه او د پلار لاس یې
ونیولو، ورته یې ووی ! بابا ستا خوښه ده که اخلې واخلې، که نه ما ته سوټ
واپس راکړه: په دې ما نن ټوله ورځ ګټې ټولې دی او خپل پولي لاسونه یې
پلار ته وښودل هغه رو غوندې مسکی شو او ورته یې ویل ! وس به ما خدای
جوړ کړي.

زه هم دا وایم چې که زما دا شاعري په ځا بده لګی نو هغه هیڅ حق نه
لري چې د دې سره بد سلوک وکړې، ځکه چې په دې شاعرۍ ما د زندان
دالونه خوړلې دی، نو ځکه زه دومره حق ضرور لرم چې خلکو ته یې وړاندې
کړم. که دا نغمې د چا خوښې نه شي نو په خپلو غوږونو کې دې ګوتې کیږدي
زما په خوله دې مهر و نه او زما په شاعرۍ دې پابندۍ نه لګوي.

Ketapton.com

زما دا خیال ؤ چې دا یادونه به د چاپ په ځای د جرګانو یې رحمه فامینونې د حواله کوم ، واك د خدای او رضا د دوی ده . خو یو مشر را ته قیصه وکړه چې رښتیا ویل د یو بنده کار دی ، هغه را ته وویل چې یو باچا ته چا په غوږ کې وویل چې په دې ښار کې یو شاعر د « عالي جاه » خلاف نظم لیکلی دی . هغه ټول شاعران را وغوښتل او حکم یې وکړ چې قصیدې ولیکئ . ګڼو شاعرانو د شاعرۍ نه انکار وکړ او بادشاه حکم وکړ چې دوی جیل ته ولیږی هر ورځ به څو څو شاعرانو قصیدې لیکلې او د جیل نه به تللی په اخیر کې دوه شاعران پاتې شول . بادشاه حکم وکړو چې که تر سبا یې قصیدې ونه لیکلې نو د ښار په چوك کې یې پانسي کړئ . یو شاعر د شپې قصیده ولیکله ، هغه رها شو او بل سحر د ښار چوك ته د پانسي د پاره بوتلی شو . شاعر چې د پانسي په تخته ودرید لو، نو هغه وویل ، وار وکړئ قصیده او ووېم او هم هغه نظم یې شروع کړ کوم چې هغه د بادشاه په خلاف کې لیکلی و . بادشاه هم په موقع ولاړ و ، هغه یې د پانسي د تختی نه را کوز کړ او اعلان یې وکړ چې زما په ریاست کې دا یو رښتونی شاعر دی او زه دا ندرو ترنم .

Ketabton.com

ما هم پخپلو نغمو او نظمونو نظر واچولو ، ماته هم دا نظمونه د پښتونی
معلوم شول او دستی می د دی کتاب د چاپ کولو فیصله وکړه . ګورم چی
زما په وطن کی د پښتونی شاعر او پښتونی شاعری سره څه کیږی .

د زندان یادونه زما د ژوند سرمایه ده او زندان هم زما ډیر ښـــه
دوست دی . هر کله چی ده ته ورغلی یم ، ده زه خالی لاسونه نه یم
استون کړی ، ماته یی داخل دا کتاب په لاس کی راکړ او زه یی تاسو
ته پیش کول غواړم .

زندان ماته په ژوند کی نور هم ډیر سبقونه راکړی دی . ابن بطوط
یو ډیر مشهور سیاح ؤ ، هغه په لار روان و ، نیږی ماښامګری
شنډه دښته وه د شفق سرخی د اسمان په لمنو خوره وه . چی یوه
پیغله جینۍ یی په شنډه دښته کی ولاړه ولیدله او هغه ته یی تپوس
وکړو ، چی دلته څه کوی . جینی ورته ووی ژوند ګورم ! هغه
ورته ووی کم عقله ژوند لیده نه شی . محسوس کیږی ؟ هغې ورته
په ځواب کی ووی : څه مسافره خپله لار نیسه ! اوس اوس د هوسیو
یوه قافله په دی لار تیره شوه . هم دغه ژوند ؤ چی ما په خپلو سترګو

زه هم یوه ارزو لرم چې کاش په ما څوک ددې وخت سیلاني داسې پیښې شوې چې دڅوند په تلاش کې وې چې ماورته وویلې! په بدبخته سیلانیه که ژوندګوری نو لږ زندان ته لاړ شه !! ما هلته لږ د یر وخت تیر کړی دی او ژوند مې په خپلو سترګو د یــــر د نږدې نه لیدلی دی.

د جیل په یادونو کې یو یاد داهم دی چې یوه ورځ د " انصاف بنا پیږي " زما ملاقات له راغلی وه او ماته یې دمینې او اشنایې پیشکش وکړ. ماچې هغې ته وکتل نو هغې په پولاس کې تله وه او په بل لاس کې یې توره وه. ما هغې ته وویل: ته دا انصاف بنا پیږۍ نه یې ته د چکلي دمه یې: که ماسره مینه کول غواړې نو دلاسه دغه توره ارتاوه کړه. خدای دې وکړي چې هغه دغه توره ارتاوه کړي او زما او د هغې اشنائي د تل دپاره وشي.

د وهم یاد داهم زما د ذهن په پرده کې شته چې یوه ورځ ناڅاپه په جیل کې زما دیو دوست سره زما ملاقات وشو. هغه زما د پیچرت

بیوس وکړي په څه کې یې راوستلي یې ؟! ماورته ووی د ستاسې
ازادۍ کې ، هغه راته ووې : څه مطلب ؟ ماورته ووې : دوالله
نورپه‌ی زه هم نه پوهیږم ) ماته پته نشته چې دغه دوست بدپوهه
شوی وی او کنه ؟ خو زه پردې پوه یم چې صرف ازاد خلک
زندانونو ته ځي . پابند خلک خو په « ازادۍ » کې هم پابند دی .
هغوی هیڅوک زنـــدان ته نه بوځي .

د زندان په یادونو کې نه هیریدونکی یاد زما د مور د هغه وخت
داحساساتو او جذباتو یاد دی کله چې ما پولیس جیل ته بوستلل
غواړې ما نو زما مور دغه وخت ډیره خفه وی ما خو په دغه وخت
کې هغه نه خدو یلی شی او نه ژړلی شی . زه هغې ته همیشـــه
وایم ، چې مورې ! خدائی پاک د ثوند په دې ډراهه کې زه د یو
خاص پارټ د پاره پیدا کړی یم . زه د هغه پارټ تکمیل کوم ،
د دغه پارټ د یو ستارټ د سین ، تکمیل به په جیلخانه کې
کیږي ، خفه کیږه مه ، ما په دوا ړه مخه شکل کړه او ډیرپـــه
خوشحالۍ مې رخصت کړه څکه چې وختونه د چا انتظار نه کوي .

په دې کتاب کې ما د امن سندرې ویلې دي ، ځکه چې زه د امن مبلغ او د امن خوښوونکی یم زه د دنیا په مخ د سرو ګلونو چمنونه لیدل غواړم . د انساني وینو سیلاب بونه لیدل نه غواړم زه انسانان د پیداوار په حصول کې مشغول لیدل غواړم زه نه غواړم چې دوی د جنګونو په محاذ کې ووینم . زه د توپك په ځای د انسان په لاسونو کې قلم او د پیداوار اوزار لیدل غواړم .

ما د ړومبی جنګ عظیم او د وهم جنګ عظیم تاریخ کتلی دی ، زما د ذهن په پرده د غم د کښت او خون نه ډك ظلم موجود دے . نو ځکه زما دا ارزو پیدا شوې ده چې بل جنګ دې نه وی په کار ، هیڅ کله نه دی په کار او همیشه د پاره نه دی پکار ، د دنیا تعمیر په کار نه دی دوی د حسن او ښکلا لوټوونکی ، د پوره انسانیت دښمن دی . تپوس کوم چې دا ارزو خو به جرم نه وی کښې ؟

ځکه چې په تاریخ کې ما کتلی دی چې کومو خلکو د امن او ترقی خبرې کړی دی معتبر خلکو هغوی ته په زندان ته لیږلی دی او د هغوی ژوند د یر په زحمت کې تیر شوی دی .

دیوجانس یوه شپه د خپلې ښځې سره ناست و او د ښځې د مقابلې د پاره ورکړه اوره هم نه وه نو هغه خپلې ښځې ته ووی ! پاڅه چې ګدا شو ! او دغه شان یې د ښځې دامسان په خاطر هغه شپه سره د ښځې په ګدا تېره کړه او ځان یې ګرم وساتلو او چې سحر د یونان په بازار کې نمر ته تو د یدلو، سکندراعظم د هغه مخې ته ودرید . ورته یې ووی : زه سکندر یم وایه څه غواړې !؟

هغه ورته ووی : د نمر د مخې نه لرې شه ! زه پسارې ته ناست یم .

مادراجرز بیکن تریو او تریخ تاریخ ټول لوستلی دی ، اما لوستلی دی چې فیوچک د پانسی رسی په خپلو لیمو ښکل کره . د هغه قصورونه او چې هغه د جهان د پاره امن غوښتلو او د فاشیزم دښمن و .

ټول د یورپ تاریخ د دغسې واقعاتو نه ډک دی او هم دغو تاریخي واقعاتو د یورپ تاریخ ته ځلا ورکړې ده او نن پرې د دې وخت انسانان د علم متنده ماتوی .

په انګلستان کې د پاچا نمرود و بیدو د پاره او د کلیسا د وحشتی او رجعتی رول د ختمیدو د پاره د تاریخ د غو عظیمو خلکو خپل ځان د مرګ کومی ته پیش کړی او هغه شان په فرانس او جرمنی کې د یوه علم او عقل خاوندان

Ketabton.com

د زندان د تیرو ښکارښول چې هغوی رهنما غوښتله .

د غو د علم خاوندانو په د غه وخت کې ډېرې د کار خبرې کړې دي چې اوس موږ په هغو تنقیدي نظر اچوو، علم او عقل په وړاندې بیایو .

روسو په ډېر فخر ویلي وو چې انسان ازاد پیدا کیږي . ولې معاشره هغه په زنځیرونو کې کړې او موږ په دې وخت کې دې نتیجې ته رسو چې فطرت انسان د ځان غلام ساتل غواړي، ولې انسان د فطرت د غه زنځیرونه ماتوي موږ هم کوښښ کوو چې د زندان دروازې د تل د پاره ماتې کړو او یو داسې معاشره جوړه کړو چې انسانان هیڅ کله په زنځیرونو کې ونه تړي، بلکې د انسانانو صلاحیتونه ازاد پرېږدي چې پخپله معاشره پر وړاندې بوځي

هیګل په خپل وخت کې په ډېره وعده سره ویلي وو « څه چې معقول وي هغه حقیقي وي او څه چې حقیقي وي هغه معقول وي » ماته دده د اخلاقیاتو په فلسفه کې دده د غه « معقوله » خبره ډېره نامعقوله ښکاري . ځکه چې د هیګل په نظر کې ریاست معقول او جیلونه د ریاست دیو اوزار حیثیت لري . نو ځکه ماته د هیګل معقول شی نه یوازې نامعقوله ښکاري، بلکې د هغه حقیقي شی غیر حقیقي هم دی .

Ketabton.com

د زندان په یادونو کې ما ته د ډاکټر لوتهر مارټین داخبره هروخت یاد یږي "چې د عظیمو خلکو شناخت په سختو او سترو کې کیږي."

لنډه دا چې د تاریخ په باب نظر واچوم، نو به دې نتیجه رسېږم، «عقل جهالت ته ډیر شهیدان پیش کړي دي" او زه د هغه وخت په انتظار کې یم چې جهالت د عقل نه نور شهیدان و نه غواړي.

په دې کتاب کې ما د عشق او مینې غزلې هم لیکلې دي، ځکه چې زه پوهیږم چې زما د سیمې ملایان به بیا زما په نظمونو کې د کفر ګوري او په فتوا به د هغوی د خولې نه ضرور بې مزې کیږي. خو زه د دوی نفسیات پیژنم: دوی د حسن او ښکلا مینان دي. زما خیال دی چې دوی چې فتوې ورکوي او د خولې خوند به یې خراب شي نو چې د شیې د خلکو نه په غلا د زړه د تسکین د پاره دا غزلې ولولي او بې ارامه زړونه یې تکور کړي ما هم د غد کولې شوا و ووې کړم خود دې په بدل کې د دوی نه یو خوا هشو نه هم لرم. او هغه دا چې د دوی عادت دی چې زړې کوي انسانان د دوی د زړو ښکار وي، نو زه د دوی نه خواهش کوم چې نور د انسانانو په ځای د زړې او ګونګو نه په سرکښه فطرت وکړي چې دا انسانانو د خدمت تابع شي

د زندان د تیرو ښکار شول چې هغوی رهنما غوښتله .

د غو د علم خاوندانو په دغه وخت کې ډیرې د کار خبرې کړې دي چې اوس موږ په هغو تنقیدي نظر اچوو، علم او عقل په وړاندې بیایو .

ر سو په ډیر فخر ویلي وو چې انسان ازاد پیدا کیږي ، ولې معاشره هغه په زنځیرونو کې کړي او موږ په دې وخت کې دې نتیجې ته رسو چې فطرت انسان د ځان غلام ساتل غواړي، ولې انسان د فطرت دغه زنځیرونه ماتوي موږ هم کوشش کوو چې د زندان دروازې د تل د پاره ماتې کړو او یو داسې معاشره جوړه کړو چې انسانان هیڅ کله په زنځیرونو کې ونه تړي ، بلکې د انسانانو صلاحیتونه ازاد پریږدي چې پخپله معاشره په وړاندې بوځي

هیګل په خپل وخت کې په ډیره وعده سره ویلي وو « څه چې معقول وي هغه حقیقي وي او څه چې حقیقي وي هغه معقول وي » ما ته د ده د اخلاقیاتو په فلسفه کې د ده دغه « معقوله » خبره ډیره نامعقوله ښکاري . ځکه چې د هیګل په نظر کې ریاست معقول و جیلونه د ریاست د یو اوزار حیثیت لري . نو ځکه ماته د هیګل معقول شی نه یوازې نامعقوله ښکاري ، بلکې د هغه حقیقي شی غیر حقیقي هم دی .

Kotabton.com

کهو

اوکنه تا سو خواه مخواه فتوی لګوی : نو دا خیالونه زمانه دی دا د ساینس خیالات دی او که چیرتا سو بدلګی نو دهګی په ځای چرګه مړ که دفتوونو چی زما په ځای ساینس ته وا ړوی .

او اخیر کې مې د ومره قدر له خواهش دی چې خپل سوچ ددې اصولو متابع کړی .

"دې ته مه ګورئ چې ویناد چا ده ، بلکې دې ته وګوره چې وینا کې څه وئیلی شوی دی". جنګ د ظالم او مظلوم ترمینځ دی . د ظالمانو او مظلومانو مثال دا وبوا ود تار کولودی . هغه هیچرته نه شي پوکیدی . د خدای دپاره په پردئ جګړه کې ځان مه غریق کوئ ، ددین خدمت وکړی او دین د ظالمانو د دفاع دپاره مه استعمالوئ . د ظالم او مظلوم په جګړه کې د ظالم د توری هغه لاس ونیسی چې د مظلوم په مرئ یې لګوی د خدای په خاطر مظلوم ورته د ګریوان نه مه نیسئ .

زما هم دغه وینا خواهش ، او تمناده !

شمس نورستانی

۲۷ - دسمبر ۱۹۸۳

شیرزل جیل سید و شریف

دلوی خدای په امان

۱

سکھ، که عیسایي، که مسلمان شم، که منکر شمه
پوه مي ملا جاند کړه بشر که یم بشر شمه

دېر مي ستا آشنا ته سرټیټ کړی بت کدو کې دی
لږ به میکدې ته هغه خپل اشنا له ور شمه

ته چې خپل شهوت له غواړې حورې غلمان هیڅ نه وی
زه چې اوږې خېټې له د وږي غواړم کافر شمه

زه چې د ظالم خلاف راپاڅمه نو ستا په ښېن
سمه کلا زه پرېږدمه، په شاهي کلا زه سر شمه

دا لیونتوب بنه دی خدایه زه کیف هم بغاوت کې شته
لوی ارمان مي دا چې هم شغله شم هم شرر شمه

شلم ستمبر ۱۹۸۰
سنټرل جیل پشاور

PROPERTY OF ACKU 2693

دیو تهمت په ځای دې سل تهمته نور اولګی

موږ سینه کړې اوس دې تول زموږ په کور اولګی

داسې خوره ور زما په غیږ کې راشه ، په سوزه

لکه چې ګل شي پاڼې پاڼې خور مخـور ولګی

ستا په لیدو زما ځیګر داسې ترپسکا شروع کړي

لکه چې اوښکه چیرته وڅاڅی پـه اور ولګی

خوږې لمحې راته زما یادې شي په تریخ ساعت کې

لیونی فکر مې وتلی و خـــت په لور ولګی

هغه مریم او زلیخا هم دعشق اور سوی دی

خیر دی په تا که هم دشمس دمینی تور ولګی

٢٦ـ اکتوبر ١٩٨٠

بډابیرا پولیس سټیشن

نه ادیب یم، نه شاعر یم نه لیکوال یم
نه ادیب یم، نه شاعر یم، نه لیکوال یم
نه د خپل محیط د پېښو ترجمان یم
په کږه د حوادثو کې راګیر یم
نه مې کار په زنځیر شته نه په زندان یم

که په نا روې، که په داروې پروا نشته
خو کتاب کې مې د ښمن ته شرها نشته
نه د خپل وطن د ونې یوه څانګه
بې له ونې د ژوندون نه مې ژوندګران دی
په فریب د ژوندانه غولېدی نه شم
په والله چې مرګ تری نه ګلداسان دی

نه خوار ا نوسته دروغ ویلی نه شم
د ماضي زړې قیصې، لیکلی نه شم

د باړو تو په لمبو کې سګون ګورم

په تمپو د دلربا مې څه کار نشته

سر دار د محبوبې د غیږ نه خوږ دی

د پستو لیچو په خوب کې قرار نشته

چې ګوزارېږي د ظالم خوړلې ندوی

هغوی ژوند هډو بېخي لیدلی نه وی

زه شاعریم د ظالم ثنا خوان ندیم

زه یې خونې او مانۍ نړول غواړم

زه د دې دنیا تعبیر او تفسیر څه کړم

زه خو دا دنیا بیخي بدلول غواړم

د دوستانو په تکل کې جهان ګورم

په حرکت او تغیر کې خپل ځان ګورم

Ketabton.com

دشمشاد په دنګو څوکو لاړ شم کینم
د خیبر[1] انقلابي نغمې شروع کړم
د آموسنه پورې لاړ شمه په خیال کې
د ګورکي[2] او د پوشکین[3] قیصې شروع کړم
خان خلمي کړم . فکر ځوان کړم بیرته راشم
د غمانو د ستم په ضد لګیا شم
ګیرچاپېره سري لمبې دي ظلم زوردی
زه به داسي ویریت ماحول کې څنګ خاموش شم
زه پخپله د دې زور او ظلم ښکار یم
د شرابو په نشو کې څنګه مدهوش کړم
زه به خپل قلم په سرو وینو کې رنګ کړم
د ظالم سره به مخ په مخه جنګ کړم

---

۱- شهید استاد میراکبر خیبر د افغانستان انقلابي شخصیت او ستر ادیب

۲-۳- د شوروي اتحاد نامتو لیکوالان

نه شاعر یم نه ادیب یم نه لیکوال یم
نه په داسې وخت کې چپ کیناستی نه شم
چه مظلوم تور په کلاش په جنګ کې بوخت دی
په قرار او په ارام خملاستی نه شم

نه یې مل یم په میدان کې به ولاړ یم
چه مې وینه تویه شي هله به ویار یم

ګیرچاپیره چې په خپل محیط نظر کړم
په سیرو کې یو ځلاند ژړه ښکاره شي
اړ دوته د خوارانو چې مې پام شي
شم خوشحاله یو رڼا ژړه ښکاره شي

دا د ظلم زور نظام نه پاتې کیږي
دا د "چل فریب" «اسلام» نه پاتې کیږي

۱۳ - سپتمبر ۱۹۸۰
سنټرل جیل هري پور

Ketabton.com

نه د دلدار پروا لرم ، نه د رېبار لرمه

نه په نشـــود میوکار نه په خمار لرمه

څوک د آشنا ستم یادئ    څوک د رقیب ظلمونه

لکه ګنجي نه په سرتار نه په چا کار لرمه

د بل په طمع د اصلاح به ژوندون څه دیر وم

زه په خپل زړه او ځان پخپله خپل اختیار لرمه

زما د خپل فکر غوټۍ به نن صبا کې ګل شي

زه څه پروا د چـــا د ګل او د بهار لرمه

شمسه ! ملیان که د تقوئ او پاکي ذکر کوي

زه پوهـــه شوې یم د دوی نه زړه کې خار لرمه

۱۲ سپتمبر ۱۹۸۰

سنټرل جیل هری پور

# راشه یاره راشه راشه

یووره شان کسوتمه ده توره شپه ده
هشنغر دی هم مستی ده هم جمال دی
د تنګی (۱) مسته فضاده زړه راکاږی
باغی شوی راشه زړه کاواکه خیال دی

زما زړه هم په تورو شو تخنیری
خدای زړه زړه یادونه راپادیږی

هغه هیرآشنامی بسیا مخی ته راغی
د ینجری په خواکې ودریدی په مسکاشو
ماوی زه خولیوئی یمه ته خه کړی
ده وې زه هم په «خود» ندیم په خنداشو

ماوی راشه چې دیو بل نه چاپیرشو
راشه راشه چې یوه ینجره کې ګیرشو

---

۱ تنګی په هشنغر کی یو کلی دی

Ketabton.com

د زړندان په ظلم زوروکي چې پـــــا دیږي

چې په زړه مې "حوالات" کې راوریـــږي

خــپله یاره بس یـــوه خبره واوره

چې یـــوه لـمحـه لدما نه نه هـیریږي

ته زما یې ، زړه د تا یم ، د یو بـــل یو

ما او ســـتا به جدا نه شو د واړه خپل یو

زما یاره لږ په ستا وضاحت وکـــړم

ســـته زمـا د مودو عزم یې جذبه یې

زمــا یاره ســـته هلك یې ســـته جینۍ یې

ته زما د دریـــــدلي ژوند قیصه یې

راشــه راشـــه چه ژوندون ته غاړه ورکړو

راشه راشه چې جنون ته غاړه ورکړو

تنګي رشتنغر، حوالات

۱۲ اکتوبر ۱۹۸۰

دا زولنې دا زنځيرونه بنه دي
وې دې - د جبر زندانونه بنه دي
ستا جبر ګورم چې يې توان څومره دی
کوه ! کوه ! دا ستمونه بنه دي
د هر يو داغ نه به چراغ جوړيږي
د زړه د پاسه يې داغونه بنه دي
خه چيرته نور د خدای ساده وګوره
شيخه د وعظ نه جامونه بنه دي
شمسه هم دوی به سور سحر راولي
په غم لړلي ماښامونه بنه دي

۲۵ اکتوبر ۱۹۸۰
سنترل جيل سيدو شريف

په محبت کې دین ایمان نه منم

په غیر له تا نه بل جانان نه منم

دلته یو سنګلی شان بت لټوم

فیضې د حورو، د غلمان نه منم

ملا: قلار شه، سر می مه خوږوه

چې غریبي شته بل شیطان نه منم

ما داوېلې چې تقدیر بدلوم

دښمنان وایي چې یزدان نه منم

شمسه! که سل واري کافر مې کړې خوک

سمه خبره ده چې خان نه منم

۲۶ـ اکتوبر ۱۹۸۲

سنټرل جیل سیدو شریف

Ketabton.com

# امتحان

زما د ذهن په دنیا کې یو طوفان پیدا شو
په تصور کې مې دلځ دلځ خیالونه راځي
لکه عقاب د اسمانونو په لمنو گرځم
لاندې چې گورم د دنیا رنگ رنگ ملکونه راځي

ده یو ملك تاریخ چې ډېر خوږ او تریخ دی
زما په ذهن کې قیصې د ننگ و نام گرځي

هغه ملکونه چې ظلمونو ترېنه کړي کړي
ما ته د هغه ملك «د ظلم» شهیدان یادیږي
چې په خپل زوري د ظلمونو زنځیرونه ماتکړه
ما سیلاني ته د تاریخ هغه نران یادیږي

هغه وطن کې د خندا چې ډك محفلونه وینم
د شهیدانو په گلو د رته روحونه وینم

داسې ملکونه چې پرې لوېږي د خوشحالانو راج دے
ما تر ددې لرمون کې پېتې بلا ګانې ښکارې

خیر دی که دا د شپې چې توره تیره خوروي
ما ته په دې تیرو کې سپینې رڼا ګانې ښکارې

منم چې د لته به د خوشحالي په زوره تني کړي
ولې په دې به حوصلې د لیونو جوتې کړې

زه هم پخپله داسې ملک داسې وطن کې اوسم
چې پکې راج د خوشحالانو جرنیلانو رواج

چې پکې وینه د انسان ارزانه ګران شراب دی
چې په سر کړي دي جلاد پکې زموږ نه تاج

چې پکې یوسړی د ټولو خلکو رب جوړ شوی
خپل تعظیم غواړي د ټولو په زوره ادب جوړ شوی

ملګرو تا سو ما نه تنګ په هغه ځلاېږ غواړې
چه په سرو وینو به په هر یو ګام مشال بلوم
په سختو ځایو کې چې عقل تهکنی غوندې شی
هلته به زه خپلې جذبې ته دستا سو خیال بلوم

زه به دا خپل نشان په خپل ترونده دا نه هسک ګرځوم
کله سر مې ځي خو دا نشان به چا ته نه پرېږدوم

یا زانو یا خو به بې سر د تنې لرې پروت وی
یا خو به دا ظالمان دلته کې سره نه وخوری
یا به زما په وینه دلته دیوالونه سره شی
یا خو به سپې ددې وحشیانو اندامونه وخوری

تا سو یقین لرئ چې یا به امتحان کې پاس شم
یا به د ترونده د قید او بند او مصیبت نه خلاص شم

۲۳ـ نومبر ۱۹۸۳
شهزل جیل سیدو شریف

راشه ، سرمې کېږده پر سینه ، د رزاند پوهه شه
وخت داسې ظالم دی چې دد ځینیانه پوهه شه
د غه د عذاب او د ثواب خبرې خوشې دی
داد زاهد انو ددې خپل گنانه پوهه شه
چا ورته ویلي چې په زور ظلم بد غلی شي
پاس د دار په سرهو ددې یو مسکاند پوهه شه
ای زموږ خدایه دا تېرې د نورې څې تېختي
سږ بحرې الوزی د پېرق رنیانه پوهه شه
شمسه د ژوندون سندرې دا بد د مرگ خولد کې هم
پټ چرته مجنون شته د سکاړ لیلی ند پوهه شه

یکم دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سید و شریف

# دا زندان!

دا تیږي دا ګیرچاپېره تور سیخونه
دا تمبوپک، دا سنګینونه، دا بوټونه
دا په فکر او په ذهن قیدغونه
دا بې وسه اسویلي ساړه آهونه
دا یو څو فته چکۍ دا سخا دالونه
دا تبیر او دا کدوان او دا ساګونه
دا پولیس چه مو د سر د پاسه ګرځي
دا چینجي چي په دوړو کي غوړېږي پرزي
دا په جیل د ننه بل زندان کي بندیو
موږ نا ست یوه تېزک ښکته ځي برځي
باغ وحش (١) کي راګیر لکه ګډان یو
په «میوزیم» کي ایښي لکه زاړه بتان یو

ا. عجائب ګر

Ketabton.com

خلکه واورئ چې زموږ ګناه څه ده
چې بندي یو موږ کړې خطا څه ده
په تیروکې د صبا سندرې وایو
د تیرو بچوړي وایي صبا څه ده

موږ په دا ګډ خپل زړه خبره ووي
موږ نسیم ژوبلو ته د ژوند سندره ووي

چې قانون یې د خپل کور وینځه ګڼله
چې حیا یې د دې ټول وطن لوټله
چې د دین په نوم یې خیټه ډکوله
موږ لوبه سپین میدان ته راوستله

دا قصور دی ، دا ګناه ده ، دا خطا ده
دا سزا د دې بدل کې څه سزا ده

دا د ظلم زنځیرونه نه ټینګیږي
دا زموږ وطن به موږ ته پاتې کیږي

۲۰ - نوامبر ۱۹۸۳ ننګرهار جیل سید و شریف

چې تدراتغلی د زړه کې پټکوړمې غم وریږي
اوس یې څرګند کاږښتنه که هم وږح ماتم وریږي
یو تنهایي ده ، بل تیرې دې دریهیم ستا فراق دي
د زړه ګي سږه ! مایوسی په هر قــدم وریږي
غواړم چې ستا لیونۍ سترګي په خپل زړه خښې کړم
خیر دی که وینه تری جانانه دم په دم وریږي
ستا یو مسکا د زندان تولې ستوماني هیرکړي
لکه په ګل چې د شپې پټ غونډی شبنم وریږي
د سترګو توره ! والله بې لتانه ګران ستیږي
په زړه می سختی تیروم کنه ستم وریږي

ښه ستا د غم نه به مړه شمه سودا مه کوه
ستا دی د خدای په نوم قسم وی چې وفا مه کوه

زه د زړه ښه غواړم، خو مړه دومره پت او پاله
چې زما مخکې د رقیب سره خندا مه کوه

نن خو دې بیا کړې سترګې شکسته نا غرضه تیر شوې
ما د رښتیا خبره کړې وه چې دا مه کوه

ته یې د زوړ زړه ښه خبر یې، دا یې ما ته ویړه بی
چې نه راځي هسې لوظونه د صبا مه کوه

شمسه! قلاړه شه، غلې کېنه، آشنایي نه کوم
لاڅه بیځایه هسې خلکو ته رسوا مه کوه

لیډي ریډنګ هسپتال
پشاور

ځان سره په جنګ شم که جهان سره په جنګ شمه
دلته کې په جنګ شم، که اسمان سره په جنګ شمه

په ساقي ! ته شوم شپولی اشنا هم ما هیڅ نه شو
ستا سره زړه خوړ کړم، که جانان سره په جنګ شمه

بیا مې زړه مستي غواړي، شراب غواړي، کباب غواړي
څه وکړم، توبې، که د ایمان سره په جنګ شمه

هغه د "خودی" مجسمه ده یو تاریخ لري
زه لیونی نه یم چې شیطان سره په جنګ شمه

مینه مې غالبه کړې اشنا مې بې قصوره کړې
پرېږدې و زه شمسه ! د خپل ځان سره په جنګ شمه

۱۵ ـ اکتوبر ۱۹۸۰
ورسک تارجر کیمپ

د زړونو اختروونه موهم ولیدلو

د ډیرو «خلکو» ایمانونه موهم ولیدلو

هغه چې موږ یې د شلولوسوګندونه کړي

د ظالمانو ځنځیرونه موهم ولیدلو

چې د کچه ملګرونوی حوصلې پرې باسي

هغه ظلمونه ستمونه موهم ولیدلو

زړندون کې د ډیرې مرحلې راشي او چې تیرې شي

د ننه کیدو هغه کارونه موهم ولیدلو

هغه چې شمسه ایمانونه پرې د خلکو اخلي

د غد د مکر پیشکشونه موهم ولیدلو

۲۰- اکتوبر ۱۹۸۰

تنی حوالات

سپیره اختره! خوشحالي دِ هیڅ راوړې نه دی
ورځه په بیرته سوکالي دِ هیڅ راوړې نه دی
د خان بچو ته چې نن هم زموږ بچي پسخیږي
را ته نږدې نه شي زېږګی ۱، دِ هیڅ راوړي نږدی
هغه چې موږ او خوړ يي نن هم مړه ایرته ناست دی
هغو خوارانو له دالي دِ هیڅ راوړې نه دی
زه چا ته خنګه او په خه مبارکي ووکړمه
اختره! خه مبارکي دِ هیڅ راوړي نږدی
ته دي خو کسو اخترېږي په بلادي ولسو
موږ غم لړلو له ښادي دِ هیڅ راوړې نه دی
موږ دي په کانولو، ته راته لا قدر غواړې
په نوم کډلوی يې خولي ډوي هیڅ راوړي نه دی
نه هم ورځې شمس هم د خان سره مانوته بوځې
ورک شي اختره! آزادي دِ هیڅ راوړي نه دی

هغتی هو الاثب
د لوی اختر ورځ

---

۱- زېږکی = بزېږکی

# آشنا ته

ژوندکې داسې څوک شته چې ښځه آشنا و نه لري ؟
داسې هو ښکلا ستاینکی شته چې د ښکلا عکس پرې پرې
نه وځي ؟ داسې څوک شاعر شته چې حسن د ښځه په جسم
کې دا ورلمبې تازه نه کړي ؟ داسې څوک وارث
دلداده شته چه جمالیاتي ذوق و نه لري ؟
خپل احساس ته داسې الفاظ ورکول چې نورکې هم
پټ بخرې تازه کړي . زه کوشش کوم چې خپل آشنا ته
څه داسې څه ولیکم چې د هغو زړونو بخرې تازه کړم .

شمس

د زندان شپې دي او د ژمي یخ باد و ننه آشنا
زه ګوزاره ستا جدایي کې په اوښکو کوم

ستا د ملالو سترګو زار شم هیڅ ویدونکی نه دی
د زړه په وینو میلمستیا ستا د غمونو کوم

PROPERTY OF ACKU
2693

ستا نره یادیږم کدیوانې په ماورېسلیږی
کـنه د شپو هغه یادونه تاته هم یادیږی

په خوله به چپ وو د محفل یاران به نه پوهیدل
موږ به په سترګو کې بلا بلا خبری وکړې

هغه چې موږ به په « وروځو » دزړه حال ویلو
موږه به دواړو اشاری دلری لری وکړی

وس تنهایي ده ، جدائی ده ستا احساس کیږی
د زړګې سره اوس مرستاله خوا اخلاص کیږی

چې ما او تا پری د شریك ژوندون قسم کړی و
هغه مقام ، هغه ماښام درته یادیږی کنه ؟

چې ما او ستاد پاکې مینې پرنام چوت کړی و
دسترګو توره هغه جام درته یادیږی کنه ؟

د وطن مینې ستاد غیرتې نه زندان ته بوتلم
ایله په ژوندکې مینې سختې امتحان ته بوتلم

زما په تاباندې باوردی یاره پت به پالي
ته به زما لاره څارې سخت انتظار به کوې

ستا د زړه کوټې په دننه هر ساعت موجود یم
چې زموږ مینه د پیړی نوښه کار به کوې

وختونه شمیره ستا اشنا به نن صباکې راشي
دعا کوه چې سرې هسک وی په حیاکې راشي

د ژړګي سره غوږ نږدی کړه یو خبره کوم
په اننګو دې ګوری یا م ګرځونه پرې نه وزي

د غرستا سرې شونډې د شمس د شونډو دی امانت
په دې دې هیڅ کله د غیرا هونه پرې نه وزي

زه به وختونه د زړندان په شجاعت تیروم
کله سختي د دیرې شي خودا په غیرت تیروم

اشنا دا لوظ به تر هر ګه مړګه نه هیر وو
هرڅنګه وخت چې راځي دا به په جرئت تیروو

۵ دسمبر ۱۹۸۳ ښهرل جیل سیدو شریف

Ketabton.com

په خوله خاندم، زړه کې ژاړم، دحالاتو نزاکت دی
هم رقیب شته، هم آشنا شته، څه عجبه کیفیت دی
راته وګوره بنو کې چې زړه وګورم مخ واړی (۱)
دا کتل او نه کتل یې هم ګیلې هم شکایت دی
دوصال جنون پېرېږدی وصال څه دیوه لحظه وی
که خوانه دمینې ګورې په درد ونو کې لـــذت دی
په خپل زړه مې اختیار نشته، په ګناه او ثواب نه دی
ګني دی کافرته ګرځې ما دا وعظ نصیحت دی
څه، ساده شمسه ! اوده شه، نه راځي ونه بیراشي
دالوظونه قسمونه دخوبانو یو عادت دی

۲۲ـ اکتوبر ۱۹۸۰
بالاحصار فورت

---

۱ـ واړی = واړوی.

که د ظلمونو داستانو نه لا باقي پړاته دي
زموږ د زړونو ارمانونه هم ژوندي پراته دي

یارانو ! پام چې هر قدم مو په احتیاط پورته شي
دلته په لاره کې خوارۀ واره ازغي پراته دي

چې د دلدار په زلفو کاږنه لړي دا رلتوي
زمانه ګیر چاپیره هغه لیوني پراته دي

ته دروغ زړۀ قیصې کوې ، زۀ درته خنګه کینم
ما نه ملګري په زړۀ خوږ زخمي پراته دي

۲٤ اکتوبر ۱۹۸۰

بالاحصار فورټ (قلعه)

د لوی لارې مسافر یم ما منزل ته پرېږدی

که په دې لاره کې اجل دی ما اجل ته پرېږدی

تا سود نه کیدو نارې وهی ازل یادوي

ما د پېچلو مسئلو پېچلي حل ته پرېږدئ

بیا که مې وژنئ ستاسو خوښه ده، نو قتل مې کړئ

د دار په سر مې لږ د خپل فکر غزل ته پرېږدی

د وخت غنمانو! ستاسو د رنه نور څه نه غواړم، خو

چې تقدیر ورته بدلوي ما هغه چل ته پرېږدئ

که اثر گورئ د نغمو له شمسه څله پوښتئ

لږ مې بې قیده د حالاتو چاپېرچل ته پرېږدی

۲۵ـ اکتوبر ۱۹۸۰

بالاحصار فورت

ځکه چې د تيرو لارو ته شپول شو، صبا راولو
ځکه چې د شپو زړه وچوو د لته رڼا راولو

لارې د کاروان چې شو کولو ته لوټ ماڼيني
زړه چې د داسې رهزنانو قضا راولو

دوی چې که ظلم زور کوي «حساب کتاب» به هم مني
موږ به ورله هم «بابا» او هم به «کاکا» راولو

په خلکو راځي چې د دې خپل مرض علاج و کړو
نه کيږي به دوی، ځان له به خپل مسيحا راولو

تن چې د هر تن پټ شي ذهنيت غم يې هم وشي
ځکه چې هغه راج شمسه په ټوله دنيا راولو

۲۵ - اکتوبر ۱۹۸۰
بالاحصار فورت

# زما د شعر ملګې!

زما د ذهن په دنيا را وريږدليه خياله
ته را نه بيان د مستۍ د کې سندرې غواړې
دلته دې تږې ظالمان، دره ته قفس جوړوي
نه الوتو له د عنقا غوندې وزرې غواړې
په دې ګناه خو دې د ظلم زولنو کې کړې
نادانه ته د يارانه سرې شوندې شکرې غواړې
هغه خو ستا له خوا رغلې جرګې هم نه مني
ته ترې خواب کې ليونيه تنبې خبرې غواړې
شپه ده، نا وخته دې تيرې دې په قرار اوده شه
که شراب نه وي په ياد و نود خمار اوده شه

د غروطن چې ستا نه وینه او سندرې غواړي
ددې بدل کې د زړه شړشاله څه درکوي
دا ته به څنګه ورته مال او سر په مینه پیش کړې
چې ستا نه قربې غواړي، ستا حقونه نه درکوي
تاسو به ولې دده مدحې. قصیدې نه وایې
لوټ مارو! تاسو لا د لوټ وختونه ښه درکوي
خوارانو! ستاسو که په برخه مشقت وي خیر دی
خو نظـــرونه درته هم کاڼه وازه درکوي

چې څوک دې حسن زیاتوي، تا د سنګار جوړوي
دلته هغوی له غمه د سر پاسه بار جوړوي
نوري جذبې دې تېر ونه دي یو شور جوړ وي
ټولې لمبې راپې کوي ترینه لوږي اور جوړوي
یو لو پېټو کې، کارخانو کې، دا بختونه کسیرې
دا خپل قوت راغونډوي ترینه لوی زور جوړوي

Ketabton.com

اوس ترینه هر غلیم شړي، ټولو قسم خوړلی

دلته د مینې او ورورۍ مثالي کور جوړوي

نور دې ټولو «نخرتوتو» خاتمه ورکړی

د ظلم زور او غریبۍ ابدي ګور جوړوي

نور نو ترسو ظالمانو خلکو ته باج ورکوي

دا هره ورځ د سر کونو احتجاج ورکوي

بیا زما خیاله او زړه نه نظمونه غواړم

زما نه هر سحر وطن له سره ګلونه غواړه

بیا مې قسم دی که چا دې وطن ته بد وکتل

وینې بیا څه کړې په دلو دلو سرونه غواړم

بیا به لاسونه د وحدت په ګډه موږ نیولي

بیا د غلیم وینې کوڅو کې سیلابونه غواړم

Ketabton.com

چې آزادي او خپلواکي زموږ په سيمه راشي

پسله هره د شبته کې د جونوا تنونه غواړو

بيا به د اتفاق او وطن دوارو ويوشي نامه شي

بيا به حيا او تقدس د هر سړي په جامه شي

زما د شعر ملنګي! ما د غم جنګ ته پريږده

تو پسک زما خلم ما د سرو وينو غورځنګ ته پريږده

۷ - دسمبر ۱۹۸۳

سمونمل جميل سيد و شريف

Ketabton.com

د ګلابي شونډو مینه اشنایان نور وګوره
د اشرې سترګو ویشتلي یاران نور وګوره
موږ خپل احساس له یوه نوې دنیا لټوو
د ګرمو «تو»، پستو «سینو» عاشقان نور وګوره
چې جذبه نه لري بې مخې دي په سینګلا هوشي
د جنګ میدان له بېرې ځوانان نور وګوره
که د ټوپک شپېلۍ شنګلۍ    زما مورچې له اړخه
که مخ شنګلي د زړګي سره خوبان نور وګوره
تراوسه شمسه هر ستم دي په خدا برداشت کړه
لږ د وحشت د خدایانو ایمان نور وګوره

۳۱ ـ اکتوبر ۱۹۸۰
هري پور سنټرل جېل

ستړو د مه شي ننګیالو ته لنډه لاره پرېږدئ
د وخت اواز دی "سرخلمو" ته لنډه لاره پرېږدئ

ستاسو د ظلم داستانونه موږ ډېر ولېدل
اوس د وختونو فیصلو ته لنډه لاره پرېږدئ

چې یې قسم دیون خوړلی دی مرام ته د رومي
هغو روانو قافلو ته لنډه لاره پرېږدئ

چې د پټهانسۍ رسۍ د ستر ګو په لیمو سنګلوي
لرې شئ د غولیونو ته لنډه لاره پرېږدئ

هغه زړې خبرې لاړې ، بیا یې مه یادوئ
شمسه ! اوس نوو مرحلو ته لنډه لاره پرېږدئ

۴ ـ نوامبر ۱۹۸۰

هری پور سنټرل جیل

# وطن ته

د ږومان دد نیاګئ ښکلی منظر دی
سپینو واورو ښایسته کړی هر یو غر دی
ګوری و نی ابشارو نه ر ا بهیږی
د نګو څوکو د سیالئ هسک کړی سر دی

ملایان چې دجنت خبری ستائی
ستا ښکلا ته کلد ږسی هسی وائی

سمرد ناوی غوندی ځان سحرسنګار کړی
راښکاره شی دګچد وو زرونو ښکار کړی
غو ږ سکی غوږ سکی شی و ریځی راخوری شی
سمرکړی پټ د رقیبا نو غوندی کار کړی

یسح بادو نه عجیبه مستی پیدا کړی
معطره دوطن تو له فضا کړی

مینان د شنو بنو پولوته راشی
پیغامونه سترګو سترګو کې اداشی
سره ګلونه د لالا او د غاټولو
د ښایست مخې ته وچوی په خنداشی

زه بدبخته لا د زړه په خوراک سره یم
خپل غمونو کې اخته په ښخاک سره یم

نه دده په نعمتونو باندې پوه شم
نه دده ښکلې تصویرې زړه راکاږی
نه په ویښه د ښکلا په خوند اګاه شم
نه د خوب حسین تعبیرې زړه راکاږی

سرې لمبې زمانه ګیر چاپیره تاووی
بلاګانې نه په "نا" دی نه په "او" وی

Ketabton.com

د غوا اوږ په سور ګلشن کې بدلومه
شاړ د شتونه په چمن کې بدلومه
دا چې اوس یې په سینه غمان قابض دی
دا وطن په خپل وطن کې بدلومه

ښا ماړان د خزانو نه پا خومه
خپل یاران پسی د خوبه ویښومه

بیا به دا ښکلا زما د فن موضوع وی
بیا به دا نغمی یونوی ژوند پیدا کړی
بیا به زه هم ددې خپل وطن مالک شم
بیا به ژوند دلته یو نوی خوند پیدا کړی

د وطن اصلی بچی به خوشحالیږی
ما شومان به تول خوش بخته ژوندیږی

۸ - دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سپینه ژمی

چه د وخت دفیصلو په ضد و دریږي

لازمي ده چې به لوی کوهی ندلوېږي

زور به نوي ته خپل ځای پرېږدي قانون دی

په خواهش د چا د ذهن نه بدلیږي

چې د علم د ښمني د سایېنس توهین کړي

هغه قام د ژوند د تګ نه پاتې کیږي

د ژوندون تعبیر به بونه ځي په وړاندې

په حرکت او تکامل چه نه پوهیږي

نفي نفي نه وي دا بلد دوړ دی

خوبیناء سترګي په دې قانون پوهیږي

فلسفه د لیونتوب اساس په څه دی

دد نیا د پیژندو درک پرې کیږي

شمسه جنګ چې د محنت او سرمایې وي

د اقتصاد په انقلاب سرته رسیږي

۹ـ دسمبر ۱۹۸۳ سمتر ل جمیل سید و شریف

مه رالیږه دا مسلسل غمونه
لږ به شي بیا په مستقبل غمونه

زما دا خپل غمونه هم پوره وي
د پاسه را شي د غزل غمونه

دلته انسان یې بل انسان لدو رکي (۱)
چا وې چې ویشي په ازل غمونه

چې ما د مینې رود نیل ته دا ننګل
په خپل قسمت کې یې لیکل غمونه

خوره شه تګ راتګ د دواړو کیده
تا رالیږل او ما زغمل غمونه

د میخانې نه څنګ په خود بدراتلم ؟
ساقي جامونو کې لوټل غمونه

یو ځې شمسه ستا خندا عبث ده
د دار په سر هم خندیدل غمونه

۹ دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سیدو شریف

۱- وړکي = وړکوي

Ketabton.com

# نذیر عباسی ته

نذیر عباسی د انقلاب ستوری و . د وحشي ظالمانو د لاسه په
هر چم کیمپ کښي وو ژل شو . هغه خپل سر خپله لاره قربان کړ د هغه
روح د حسن ناصر د روح سره په ډیره خوشحالۍ یو ځای شو . د شهیدانو
فهرست لا مکمل نه دی د ا نظم د هغه په یاد کي لیکم د ا د هغو ټولو
ملګرو د پاره دی چي په دغه لار روان دی . شمس

د خپل وطن د ازادۍ او خوشحالي زیری یې
ستا د محنت نه د ږي ملك په مخ شباب خوریږي
نه د شړونو نخښه یې ، د امن خوشحالۍ نښان یې
ستا حرکت نه د نړۍ د تاریخ باب جوړیږي

د مفادا تو د اړان به د ي تر څو چپ کوي
د غه کاواکه واکداران به د ي تر څو چپ کوي

منم ستا چغه محلونوکې لـــــړزان راولی
څکه په دوارو شوندو د ي تاله مهرونه لګی(۱)
ستاد نظر غضب په دوی داسې غضب راوستی
چې ظالمان د زړه په ستر ګو هم داغونه لګی

دا زولنې د احساسات جذبات وتړلی نه شی
دا انقلاب سیند ته بند ونه څوک تړلی نه شی

که ظلم زیات شی حوصله د زړه او چته ساته
چې ستمونه د سرتیت نه کړی بی پته نه شی
دوی چې وحشت نه کوی ووایه نو څه به کوی
غرور د ړمات نه شی دښمن ته ملامته نه شی

ته به عمل داسې کوی چې ستاد استنا پای تی شی
چې تشدد د زړه څخیله هم حیران پاتی شی

۱- لګی = لګوی

د دښمن کار هم تشدد دی تشدد به کوي
چې ظلم زور زور نکړي دی هله و دښمن مه ګڼه
موږ ليوني ددې بدل کې دا خواب درکوو
که سر ساتې هغه به دې لاره مين مه ګڼه

تشدد څه وکړي خو لا زموږ غضب زيات کړي
هر ليوني پاڅي د خپلې پنجرې ور مات کړي

د غه نظام چې ورځ تر ورځه غريبي زياتوي
دا به تر څو زموږ د مخکې تللو لاره ونيسي
ددې نظام تضاد به خپله دا نظام ختموي
دا سې څوک شته چې د زمان د تلو رفتار ونيسي

دوی به ګليا وی څوک ددوی به خوښه کار نه کوي
د سپوږمۍ غيا ته کاروان چرته انتظار نه کوي

چېرته چې څاڅکي ستا د وينې چا بزدل توی کړي
هلته هغوی د خپلو وينو سور سيلاب ليدلی

Ketabton.com

چاچې په کوم ځای کې په تا د ظلم لاس چوت کړی
هلته هغوی په خپلو سترګو انقلاب لیدلی

ته د جهان د نهضت ساه یې د امید رڼا یې
ته د وحشت د تورو شپو نه پس یو روڼ صبا یې

نه پاتې کیږي نور هدی نظام روستی سلګی دی
زمکه خوځه کوي چې بره اسمان اوړ اخستی
اوس چیل حقونه غواړي ستا یاران راوتي پسی
د سرمایې د لاسو دوران اوړ اخستی

زړه چې ستا وینه به دلته کې ګلان وټوکي
ستا هر یو څاڅکی به بلا انقلابیان وټوکي

۱٤ ـ فروری ۱۹۸۱
هری پور سنټرل جیل

Ketabton.com

ته څه خبر يې بې له تا نه په ما څه تېريدل

د زړه غمونه مې خوراك وو تنها څه تېريدل

ستا انتظار د زړه وګوټ و بنکته نه تېريده

ظالمه پوه يې کړه اخېر چې په ما څه تېريدل

ما خو سوچونو انديښنو له ميلمستيا کړې وه

هيڅ خبر نه يمه چې پاس په زړه ما څه تېريدل

ما خو توبه وته د شراب جام کې اور ورته کړ

خواږې مې شور وو د جومات په ملا څه تېريدل

چا چې ديار شرابې سترګې وې ليدلې شمسه

ته څه خبر يې په هغوی به بېګا څه تېريدل

۱۰ دسمبر ۱۹۸۳

سنزل حیل سیدو شریف

د ژړې باد دی ستا د عشق په ګرمۍ ځان تودوم

خیر دی، رسوا دی شم، خو ټول خلک په ځان خبروم

ستا د خیالونو سلسلې زما خوبونه درک کړه

دوږخې هم نه شم وژګاړېتا هر قدم یادوم

چاوې چې مینه د وصال نه پس سړه غونډې شي

زه خو زړګی ستا د سور کو شونډو په اور ګرځوم

زه خود مینې بندګي کړم عقیدې نه منم

که دین ایمان پرې خفه کیږي ځان ترې وس خلاصوم

زه خو شاعر یمه جانانه نور یې وس نه کیږي

خو بس تر مرګه به به تا باندې نغمې جوړوم

۱۰ - دسمبر ۱۹۸۳

سنټرل جېل سید شریف

Ketabton.com

دمالی په سرو گلونو زړه خون بېری
اواشنا په خپلو شونډو خنده کېږی
داگلشن دی کنه خلکه قتل گاه دی
چې بلبل او بوراگان پکې قتلېږی
میکده ده خلك مست دی جام یې نشته
یو سجده د زړه کومه که قبلېږی
یه واعظه! ستا په وعظ به توبه کړم؟
لېونی د دوزخونو نه وېرېږی
گوهری شمس ته به بیا ندوائې چې سر دی
یه ساده! په دیدیدنو خوك مړېږی

۱۰ - دسمبر ۱۹۸۳
پښتنو ترل جیل سیدو شریف

# دا دور؟

قتل عام دی دانصاف ملیکی ژاړی
بل یزید دی جوړه نوی کربلا ده
دکمځو و ینبته خواږه وارږه پراته دی
په وطن د جرنیلا نو مارشلاء ده

لو پستی دلته په خاوروکی پراتی دی
د وطن لـوښه د وینوتکی سری دی
دا زاړه دفـیرنگی وفاداران دی
یوخونی لوبه یې کړې ده په «هند» کې

دانسان د وینو تږی دی ، وحشیان دی
هغه لوبه یې بیا وکړله په «سیند» کې
جمهوریت چې په بنګال کې چا غوښتلو
یادمونه دی په ګولوبه یې ویشتلو

(۱) جلیانواله باغ

د وطن واک د هغو په لاس کې راغی
چې یې تنده په نورو وینو سړیږي
د تنخوا په پیشتو یې تنده بوت دی
د انسان په قتلولو خوشحالیږي

عقل نه لري د حکم بندګان دي
فیصلې کوي زموږ حاکمان دي

هغه ملک چې د جمهوریت نوم جوړ شوی
نوم هغه کې د جمهوراخیستی نه شو
چې لکونه شهیدان موږ پرې قربان کړه
د هغه ملک نه سرور اخیستی نه شو

ازادي په کې غلامه دا ګا شوه
خوشحالي په مخلوق کې پناه شوه

یه د دې مظلوم اولس ترجمانانو!
یه د دې خاورې اوقام دانشورانو!

د کتاب نه د عمل میدان ته راشئ
جنګ شروع دی د ظالم او مظلومانو
لو به ګرمه ده د جنګ میدان تیار دی
خو فقط زموږ او ستاسو انتظار دی
څو چې د غلو به ورسوو انجام ته
د غم خلك به تیار کړو انتقام ته
چې ژوندون دلته په نوی رنګ شروع کړو
چې حیرانه کړو دنیا خپل انتظام ته
چې قرضونه ددې خوار اولس ادا کړو
پولې لاس او زړه مخونه په خندا کړو

۱۱ دسمبر ۱۹۸۳
پسته ل حبل شیدو شریف

راشه راغاړې وزه! د ډېر ساتږ دی

لږ به تاوده شو، د موسم خوازه دی

د غدوه شونډې به څوواړه ښکل کړم

نن د شرابو په توبو توبه دی

یه ساده! تر ددې وړوکي شرمېږې

دا نه پوهېږې دا لا د ډېر واړه دی

یو څو خوږې خوږې خبرې وکړه

لا به یې شي څه د زړه ارمان پراته دي

شمسه چه تلو مو سکې شوې ویل

دا یو نیریان څو به رښتیا ساده دی

۱۴ دسمبر ۱۹۸۳

سنټرل جیل سیدو شریف

دا بلبل چې په قفس کې نن چغېږي
د سپرلي د راتلو نخښې معلومېږي

د سپرلي انګازې څه شوې بیا ماتم شو
لیونو له زنځیرونه تیارېږي

ما خوښه کوئ څه زړه خوږ وړ عادي وم
د زاهد زړه په والله وړته تخنیږي

ناز ادا یې یو طرف ته کړې عالمه
هغه سترګې یې رسا په زړه خښېږي

شمسه خپلې نغمې بلې کړه تېرې دي
دا ډیوې به تر صبا پورې بلېږي

۱۵ - دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سیدو شریف

Ketabton.com

نه سکون شته ، نه قرار شته ، نه ثبات شته
بې حرکته نه ژوندون نه کائنات شته
شعور خدای خو دذهن خاصیت دی
بې تولنې بې نه وده شته نه ذات شته
هر یو شی د خپل مکان زمان تابع دی
د تاریخ د هر یو دور بېل صفات شته
هر یو څیز په بل یو څیز پورې مربوط دی
د فطرت هره ذره کې جدلیات شته
سکون هم یو نسبتي غوندې وقفه وي
شمسه دې کې هم دننه علامات شته

۱۶ - دسمبر ۱۹۸۳
شهر ل حیل سیدو شریف

# خوارانوته

په زحمت کښې به د خپل ژوند نږېږه خلکو!

تاسو به کله د غفلت د خوبه سر چوته وئ

تاسو ثروت پیدا کوی په خپله غم کې او سئ

تر څو به بل له د غم پیتی لکه غر چوته وئ

دلته غربت خوریږی هلته کې دولت غونډیږی

پدې سماج کې د محنت صلاحیت خرڅیږی

مادی دولت پیدا کوئ د ژوندانه دپاره

خو خپله تاسو له دې هر څه نه محرومه اوسئ

بل پېتوئ په تن د بل خیتی له کاره چې کوئ

اخیر پخپله به نهر پرېږد تر کومه اوسئ

د وخت آواز دی چې راپاڅئ او میدان ته راشئ

تر څو راواخلئ د میراث اقتدار نه راشئ

تاسو شپه و ورځ محنت کوئ د زړه و پرهار غږی
غمان په هغو پېړو تاسوله لاسونه تېر ی
د خپل بچي قدم په زړګه ورته کمزښکاری
ستاسو بچوله دوی د ژړا نه د ژړانه پښو نه تېری

په دې بې صبرنه وی ستاسو عزتونه لوټی
د پېغلو پېغلوبې د زړغېر عصمتونه لوټی

دا ستاسو ښځی د بيبيانو په خدمت ستړی شی
ستاسو د ګل غوندې ځوانی د خان بېګار خاوری کړی
که سر غاړه دی ، که زلمی وی ، که باران ورېږی
خو زندګی مو دلته ټوله ورځی کار خاوری کړی

دا څه ژوندون دی د دې ژوندنه بغاوت په کار دے
د دې نظام د واکدارانو نه نفرت په کار دی

Ketabton.com

جهان بدلیږي دا مو وخت دی وته پام بدل کړي

راپاڅئ خلکو د وطن دغه فضا واړوئ

چي په کي تاسو مړه یئ د غه نظام بدل کړئ

دا خندا ګاني د غمونو په ژړا واړوئ

انقلاب ستاسو د بقاء او د حیات لاره ده

داد خوارانو د خلاصون او نجات لاره ده

یو څو سرونه صدقه کړئ سور نشان اوچت کړئ

دا بدبختي به مو په ډیري خوشحالۍ بدل شي

د زحمتونو وخت به تیر شي، انقلاب راولئ

دا غریبي به مو په زیاتي سوکالۍ بدل شي

راپاڅئ یه خوارانو لته کي خپل راج جوړ کړئ

دانسانانو د ارزو هغه سماج جوړ کړئ

Ketabton.com

چې پوانسان پکې د بل د بندګۍ نه خلاص شي
چې غریبان پکې د غربت د محتاجۍ نه خلاص شي
هغه سماج چې استحصال پکې د خلکو نه وي
چې د وطن بچي مدام د غلامۍ نه خلاص شي

داسې سماج کې به د ژوند په حقیقت پوه شې
ایله به بیا د دې دنیا په خه لذت پوه شې

۱۸ فروري ۱۹۸۱
سنټرل جیل هري پور

## قطعه

لاس او پښې مې دواړه وتړه ظالمه!
زما تا به تر حشره پورې جنګ دی
چې مې ساه په تن کې وي خلاصي دې نشته
زما ستا به تر قیامته پورې جنګ دی

۱۶ - دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سیدو شریف

ستا د ږد تشي خولې لوظونو باندې اورېږي شي
زما دې هم سره اهونو باندې اوربوري شي
چې داشنا داوربل ول لد په کې وننه سېږي
د دې سپرلو دې په ګلونو باندې اوربوري شي
دلته چې زړه دستمونو په تنورکې سوزم
هلته دې ستا په جنتونو باندې اوربوري شي
زړه به مې هله شي خوشحاله په قرار به کېنم
چې د زاهد په کتابونو باندې اوربوري شي
هغه به لا خوندونه ولځلي هيڅ خفه به نه شي
شمسه که ستا په ارمانونو باندې اوربوري شي

۱۲- فروري ۱۹۸۱
سنټرل جيل هري پور

پوهېږم نه یم چې په څه مرض اخته یم
چې له ژړا ستا کوڅې ته په ستنه یم
دا شراب و، که نشه وه ستا د سترګو
چې تر اوسه پورې هغه شان نشه یم
ویم که نن نه وي، صبا ته خو به راشي
ځان په زوره غولوم زه خو مړ ساده یم
چې د شوند و پورې راشي ادا نه شي
زه هم دغه رنګ نیمګړې شان ګیله یم
عاشقان چې په ژړا وي کې وایي
شمسه ستا د شاعرۍ هغه تپه یم

۱۳ - فرورۍ ۱۹۸۱
نهر ل جیل هسپتال

نامه دې ډک محفل کې ووايه اشنا واخلمه
کنه دېدن دې هم د خلکو نه په غلا واخلمه

چې هر ساعت وي خوبولي د خمار ډکې وي
جانانه! ستا د شرابي سترګو بلا واخلمه

شونډې دې نږدې کړه چې لږ اوږمې تږې ګوګل ته لاړشي
چې خپل زړګی له د غمونو مشغولا واخلمه

که په جنت کې مې د آشنا بدل کې حورې راکړي
زه به دوزخ ناصحه خدایزو په رضا واخلمه

که د اسې کینې ذمه واریه په دواړو سترګو
شمسه! په خپل سر به د هر سبکلي ګناه واخلمه

۱۵ فروری ۱۹۸۱
سنټرل جیل هري پور

قلار شه په ساده ، خاموش شه ګیلې چا ته کوی؟
دلته کې خوک دی تر د زړونو قیصې چا ته کوی؟
زړه لیونی خو په ثواب او عذاب کار نه لرم
ته د ثواب او د عذاب مسئلې چا ته کوی؟
هغه دی وینو څښنو ته ناست دی سلاګانی کوی
خواږی کم عقله د زړه سوی وسیلې چا ته کوی؟
دلته خو ټول د سر پیر دی لږ په هوش کی راشه
جلاده! ته د ژوند او مرګ درکی چا ته کوی؟
هغوی خو خان په زور او ده که د ستم لدو یری
شپیبه! د دا سرو سوې مصرعې چا ته کوی؟

۱۶ فروری
سپتمبر ل جمیل سری یور

# فرانس

د فرانس انتخابات وشو. د فرانس سوشلسټ پارټۍ د فرانس د کمیونسټ ګوند په ملګرتیا د بورژوازۍ نماینده «دستګارد» ته ماتې ورکړه. منم چې فرانس سوشلسټ ګوند پروګرام به هغه څه ونکړي کوم چې کول یې کار دی. د «نیټو» په مخ به انقلابي سپیره ونکړي، ځان به د عالمي سیاست په ټول کې د «پیس کیمپ» په تله کې وانه چوي ولې بیاهم د دغه انتخاباتو په نتیجه کې هغه قوای منظبوتیږي، پیاده کیږي. کوم چې به صبا هغه څه وکړي چې یې کول یې کار وي، د سرمایه‌دارۍ جنګ به ګزار کړي او د انسان لاسه به په انسان استحصال ختم کړي د پیرس کمون شهیدانو وینه به رنګ راوړي. په یورپ کې به دامن بنا ږدي دامن د نغمو سره میدان ته راشي

۱۲ - می ۱۹۸۱ سمندرخیل مسری پوهـ

د سهار په یوه بله مورچه د ژړۍ وشوه
د فرانس کوڅو کې د خوارانو تمونه جوړ شول
چې ظالمانو وه په دیرو بې رحمۍ توئي کړي
د هغې سره وینو نه نن هلته ګلونه جوړ شول

زحمت کشانو خپل منزل ته نوی گام واخیستو
زن دکمون د شهیدانو انتقام واخیستو

د فرانس کوښي په سرو وینو تکی سری شکاریږی
زن د والتیر او د روسو روح په گډا شکاریږی
چاچي د فرانس د تاریخ خیته کي بدلون راولیده
هغه زران یال به په لحده کي په مسکا شکاریږی

اوس خوا پله منزل ته لاری د زخندان لری شول
اوس خوا پله د سیاست نه نوابان لری شول

داسې ماران سرمایه دارو په خپل بین راویښ کړه
چي اوس یي دوی پخپله هم قابو کولی نشی
اوس دیوبل لویي انقلاب د پاره لار خلاصه شوه
چي د دنیا هیڅ یو طاقت یي بندولی نه شی

د شیشو ښار به د جهان دامن کور جوړ شی
دلته به بیا دانهرونیشنل نغمی شور جوړ شی

زه هغه عکس نن د دې شیشې په مخ کې وینم

هغه عظیم بدلون د دې بدلون اثار کې گورم

د فرانس عظیمو خلکو زه درته سور گل درلیږم

زه درته زیری د روښانه مستقبل درلیږم

۱۲ می ۱۹۸۱

سنټرل جیل هري پور

## قطعه

میکده کې د غم شور او شر د څه و

د ساقي اخیر په څه دومره په قار و

څوک ساده ناصح راغلی و دننه

مسئولیت یې زړه شوی و وزگار و

۱۷ - دسمبر ۱۹۸۳

سنټرل جیل سیدو شریف

د سماج دارا تقاء په لاره اګاه یم
د هغه د تکمیل کوم په جارګویا یم
تاریخ خلک جوړوي محصل یې دوي وي
پوهیدلی زه په رول د رهنما یم
چې علت وي نو معلول به د خواه مخواوي
د تولنې د رنځونو مسیحا یم
هر بنیاد ځان ته خپل شکل لري خلکه
د بنیاد په بدلولو کې لګیا یم
چې شعور د محنت کښو وړاندې بیایي
شمسه زه هغه او زه هغه رڼا یم

۱۷ - دسمبر ۱۹۸۳
سمونزل حیل سید و شریف

Ketabton.com

تراوسه هم زمونږ نه ډیر حقیقتونه پټ دي

لا په سینه د کائیناتو کي رازونه پټ دي

یو حادثه غواړي چي پرق و کړي بل چل پیدا کړي

پاس په مجلو کي غلي غلي تندرونه پټ دي

شته څوک چي راشي څو پو کي د وزرو لړو یخه و کړي

په دې ایرو کي هم بخري هم اورونه پټ دي

چي د چالاس پري بلو سیدو ته بخیل ویس نه پرېږدي

دا زغو زړه کي د کلو نوا ارمانونه پټ دي

چي د عزت او د نفرت په دنیا ورپوري کړي

شمسه سینه کي مي یو څو داسي اهونه پټ دي

٢٣ - فبروري ١٩٨١

سنبل جمیل عمري پور

د زړه اهونه د حالاتو چاپېر چل کې ورک وي

لکه چې داغ هم د لاله د ده په ګل کې ورک وي

ستا په لیدو لکه د بت هسې خاموش ودرېږم

یا لکه دم چې په موقع مېتولي غل کې ورک وي

په قلار کېنه، خدای د مل شه، ما خپل کار ته پرېږده

ستا غونډې ډېر دلته د زلفو په ځنګل کې ورک وي

هغوی پوهېږي نه چې کار په جد و جهد کېږي

ډېر ساده ګان څکه په فکر د ازل کې ورک وي

یا خو جفا د محبوبې ده یا ریا رچې غل دي

شمسه خوار چې دي د مینې په غزل کې ورک دي

۲۷ فروري ۱۹۸۱

شمس الحق جبیل هري پور

ما ته ستا مسکا ښه ده د حورو د خندا نه
ستا ادا مې خوښه ده د ډمو د ګډا نه
وصل کې ګناه ته کتل ډېر بې خوندي ښکاري
ښه ده دا تیاره جانانه ډېره د رڼا نه
ښه دی کفر ښه دی د "دیسي مسلماني" نه ډېر
زه خوله «امې» ښه دی د دې وخت د ملا نه
زه د لوږې مرمه په مردار په حلاله څه
ته لا وزګار نه یې د روا او ناروا نه
هیڅ به نه شي سر خو ګټو دیوالونو ته
ز ویریږم دې کې د سزا او د جزا نه

یکم مارچ ۱۹۸۱
سنبل جمیل هري پور

Ketapton.com

اوس به گلونه وشي هر بوټي سپرغي وکړلی
زما د «خیال چمن» بخپله هم غوټي وکړلی

چا بند ولي شوه په زور د سپرلو مخــــه ورته
هسې عبثه ساد گانو پري خواري وکړلی

د دغي وروځي ارماني وُو، خوامو بخه کړلـه
چي په سرونو مو میدان کي جواري وکړلی

سر مي د هر يو بادار هري دروازي ته ټيټ شو
د يري نخري راباندي دغي نجلۍ وکړلی

ما خو ویل چي خاموشي به احتجاج شي شمسه!
خو دا مصرعی راباندي خپلی شاعري وکړلی

٨ ـ مارچ ١٩٨١
سنټرل جیل هری پور

سوری سوری، زخمي یم دستم له لاسه

خلکه! ترا به څه رنګ وکړمه د غم له لاسه

تا سودا وایي دلربا به یې په زور حصار کړي

زه خودا کوډګلی پرېږدمه د صنم د لاسه

چې نه راځي هسې بې ځایه سوګند ونه مه خوره!

ډوب به شي خوار شي د دروغو د قسم د لاسه

څوک د جفا د لاسه ژاړي، سر تندې ټکوي

زه لیونی شم د جانان د ډېر کرم د لاسه

شمسه! د زور خبره نه ده، د رضا سودا ده

زه دا رله ځم د دې خیل فکر او قلم د لاسه

۱۰ - مارچ ۱۹۸۱!

سنه تل جمیل هري پور

Ketabton.com

عجیبه وخت و زه خفه وم، تا خندا کوله
زما په هر خواهش به تا دلبرنا کوله

ازغو به خود زما لمن، زما گریوان شلولو
ما د زړه سره! د گلونو تمنا کوله

زه دا نجام نه ښه خبر یمه چې څه به کیږي
خو بیا مې هم د خپل سرتیري زړه رضا کوله

ښه ده چې دا فرښتې زړونه او ځوانۍ نه لري
گنې نو دوی به په ځوانۍ کې هم گناه کوله

هغه پخپله خپل علاج له بل طبیب لټوي
موږ ترې هسې توقع د مسیحا کوله

مخ یې کوڅه کې وا ړولو، هیڅ یې پروا نه شم
چې نیت یې بد و، که زما نه یې حیا کوله

اخیر ښکاره شو لیونتوب او مینه نه پټیږي
شمسه د خلکو نه مې د زړه موده غلا کوله

۱۲ - مارچ ۱۹۸۱
ستمړل جیل مړي پور

Ketabton.com

تر دوخه راغله او باد ونه د بهار پیدا شوو
اوس په گلشن کې د بدلون ښکاره آثار پیدا شوو

واعظه ! دا د رسم نه منم عبث لگیا یې
چې دا زلمه د وي غښتان ښول ، مونږ خوار پیدا شوو

د وینې وخت کې خو په غیرت مونږ نه هیڅوک وو
د گلو وخت کې د چمن بلا مالیار پیدا شوو

اوس په هم خلکدا سا هنیل چیله شپیلۍ نه پوکي
چې د حیا او عصمتونو خریدار پیدا شوو

د وینو تږې دی لگیا دی ، خپله تنده سړې
ستا په دنیا کې خدایه د غسې خونکار پیدا شوو

۱۳- مارچ ۱۹۸۱
سنبهل جبل هسکی پور

شونډې راکه، زړګی واخله، څه چې وکړو دا سودا

که زړه پسې څه غولې هغه و وا په صفا

زه شاعر د خپل چمن یم، تر د دې وطن بنکلا

د زړه سره خوند به وکړې حسن ستا فکر زما

که تاج اخلې سر به ټیټ کړې هرڅه درېږدې دلته بیا

که شمله اخلې سر جګ وره - وایه دا اخلې که دا؟

(۱)
سلیمان بلقیس اخیستې، بدهه وانه خیسته مارا

وایه کوم یو خدای پرست و، څه دې دواړو کې رښتیا

عجیبه غونډې قیصه وه، عجیبه غونډې فضا

شمسه دلته په یو کور کې هم خندا ده هم ژړا

۱۴ــ مارچ ۱۹۸۱ سنټرل جیل هری پور

---

(۱) daughter OF Mara بوده یوه ښکلې جینۍ وه. بدهه ته پیش کش شوې وچې دا واخلا او لار پرېږده. د مارا حسن ګوتم بدهه د څه ساعت د پاره حیران کړی و دوچې څه وکړم اخیر یې خه د ډېر سوچ نه پس یې د مارا نه مخ واړولو او ځنګل ته لاړ شو.

پریشانه زلفو دي بلا پرېشان خیالونه جوړکړه
یوه مسکا دي نه وه ، موږ لا دي غمونه جوړکړه
ګوره چي بیا د چا بد بختونو سینته پوره شوه
بیا یي اوربل کي عاشقانو له قبرونه جوړکړه
سپېلوا غېږې وکړې ، هر خوا لیونتوب پیدا شو
دي ظالمانو ورته نوي زندانونه جوړکړه
اول خو ما یه زنځیرونو باندې کلک وتړي
زما سینه کي احساسا تو غورزنګونه جوړکړه
که د جهان جواهرات زه له چا شمسه زاکړه
ما به تړې هغه وخت آشناله امیلونه جوړکړه

۱۵-مارچ ۱۹۸۱
شهرل جمیل هری پور

# تپوس

لیونی فکر مي باغي شو کائینات لټوي
د تخیل نه وزرې الوزي پرواز کوي
د زړه اهونه مي راولړزېدل لاړه ګوري
لکه چې مست ملنګ په چرسو کې اواز کوي

زه هم یو دوه خبرې نن د زړه د تل نه کوم
ګناه به وي ، خو دا د وخت چاپېرچل نه کوم

یو خوا دا دنګ سپین محلونه چې اسمان ته رسي
بل خوا په خاوره کې بې کوره په میدان پراته دي
یو خوا وطن چې د دنیا د نعمتونه ډک دی
بل خوا دا وږي ټوک ډوډۍ ته په لوږه پراته دي

پښې ابله پښې سر توره ورځ ربه ګناه د چا ده
دا غریبي دا بدبختي اخر سزا د څه ده

خدایه چې زه د مرینې خلاف اواز پورته کړم
ستا ملایان را پاڅې ماته سور کافر ووایي
چې زه ویم (۱) دا تقسیم خدای نه دی دا لوی ظلم دی
دا لیونی راسته د تا د ذات منکر ووایي

زه داسې ویش نه منم، زه داسې نظام نه منم
زه یکې یو انسان د بل انسان غلام نه منم

خواګوره ته که هم فقط دې غمانو یې، بس
بیا خودې سوال سوی لوته به لېزځان تیار کړې
کنه، که ته زموږ او دوی د تولو یوشان یې او بس
بیا به زموږ فریادونو ته لېزځان ورګاره کړې

خبره صبینه ده په دوه خبرو کار نه کیږي
ستا په جهان کې نور زموږ نه انتظار نه کیږي

۲۱ ــ ستمبر ۱۹۸۱

---

(۱) چې زه ویم = چې زه وایم

چې يو تول او تول د يو د پارې کار کړي
هغه قام به ترقۍ نه څوک حصا وکړي
چې انسان د بل انسان رفيق او رور کړي
هغه ملک به څوک د ژوند بد تنګ کې خوار کړي
رهنما او رهبر دغسې په کار دی
چې دا وران ويجاړ وطن را له تيار کړي
څو ملګري داسې ګورم چرته شته دي
چې وطن د دې لېوانو نه وزګار کړي
شمسه ! بس د ظالمانو وخت په تلو دی
دا وختونه چا ته کله انتظار کړي

۱۸ـ دسمبر ۱۹۸۳
ستمرا خيل سيد شريف

مه څښنه، مه څښنه د زړه سړه داسې شي دي
د غد ستړګي خوبې میو هم نشې دي
ځواني نه ده، لیونتوب دی، خودسري ده
د خالق په ځای بتانو ته مسجدې دي
ای د حورو په خیال مستو! خاخبر کړئ
د آشنا د غیرې شپې تر ټینه خوږې دي
په ساقي داستا کرم مې کولمې سېزي
شراب نه دي، په پیالو کې سرې لمبې دي
هم غربت، هم خودداري، هم شاعري ده
شمسه د غد ددې ترېخ ژوندون قیصې دي

۱۶ - مارچ ۱۹۸۱

سنتړل جیل هري پور

په کومه خوله پوهېدي نظام خبرې کېږي

په سپینه ورځې دلته دما شام خبرې کېږي

داخو مو ساده توب دی دنږدې ان اوداروله وېرې

لګیا دی «لیونو» ته د ناکام خبرې کېږي

محفل کې دکم ظرفو دبحثونو بازار تود دی

اغاز کولې نه شي ، دانجام خبرې کېږي

څه شته دی داسکون جوړې ماتیږي نن صبا کې

کوڅو کې دوطن یې دو یتنام خبرې کېږي

ته هم په شاعرۍ کې ورته شمسه! تاو پیدا کړه

ملګرې شو تیار داننقام خبرې کېږي

۲۴ مارچ ۱۹۸۱

سنټرل جیل پېښاور

زموږ ژوند دې په خوارو او مصیبت کې تېر شي
خو چې د نوي کول ژوندون لږ په راحت کې تېر شي
د دوزخ ونو سرې لمبې د موږ ستي، ستي کړي
خو چې وختونه د بچو مو په جنت کې تېر شي
زه تقدیر نه بدلوم د ازل لیک وړانوم
ستاسو ټول عمر به په طمع د قسمت کې تېر شي
زما ارمان به هله ورېږي په ملګرو!
اخیري ساه چې مې په لار د بغاوت کې تېر شي
د غد خوني لېوان چې شمسه د سما جروړن کړو
هله به عمر په حیا او شرافت کې تېر شي

# «د آزادۍ په ورځ»

حق که غواړې د لته غداري ده، هم ګناه سنګين
دا عجب وطن دی، نه قانون شته نه دده آئين

دا خو ازادی ده چې څه خوښ اوځه دلوبی مړي
دې ته ازادي ويل والله د ازادۍ توهين

د لته پابندی ده په ضمير او شونډو مهر دی
ګرچې د ضمير خاوندان دي په درد لې غمګين

ذکر که د روس دې په مثال کې وکړو چيل ته څه
هيڅ نشته خو وايه قصيدی د امريکې او چين

د لته کې رښتيا ويل د کفر نه سوا ګناه
شمسه! په درغو د سرکار کوه رښتيا يقين

۱۴ ـ اګست ۱۹۸۱
غازي خاني

په غېر له مانه به په تا وختونه څنګ تېرېدل

د جدايۍ د شپو او ورځو پېرونه څنګ تېرېدل

ته څه خبر يې د زړه سره دا به ما ســـتېرېدل

ستا د وعدو او انتظار ساعتونه څنګ تېرېدل

مونږ ليوني خو يې د وېرې نه زندان ته بوتلو

رونړو! په تا سود بهار بادونه څنګ تېرېدل

هره ګړۍ د زړه وګوټ وه ليوني ګرځېدم

جانانه واوره چې به ستا يادونه څنګ تېرېدل

شمسه! چې وچه خوله راتلې د ميخانې نه کوڅه

اخـــير د تا په خوا کې ډك جامونه څنګ تېرېدل

۱۵ - اګست ۱۹۸۱

مجازی خانی

یو څو ګیلې وې درلېږلې مې، خو چې پاتې شوم
د زړه خبرې وې ویلې مې، خو چې پاتې شوم
ستا خوبولي اتړي سترګې نشې خوروي
د غم نشې را پېتولې مې، خو چې پاتې شوم
دا ګلابي، د لمبو ډکې، دغه سرې شونډې دي
د زړګي سره ښکلولې مې، خو چې پاتې شوم
دا ستا حیا را باندې ګرانه ده خدای ګواه دی
د دار په سر هم یادولې مې، خو چې پاتې شوم
شمسیه! دي خپل عمل په مینه کې دوکه کړه ملاز
کنه په غېږ کې را نیولې مې، خو چې پاتې شوم

۲۰ ـ اګست ۱۹۸۱
سیدو کمتل (صوات)

دغه سجدې مې تاته دې اوکنه

جانانه مینه اوس منې اوکنه

ماته دې تش لوظونه هم پوره دي

خیله دې خوښه که راتې اوکنه

زما د لاسو او پښو نه دم وختو

دوا د مینې راکوې اوکنه

هغه زاړه زاړه خواږه یادونه

وایه هغه را یادوې اوکنه

چې هم آشنا وې، هم شراب وې شمسه

وایه توبې به ماتوې اوکنه؟

۲۲- اگست ۱۹۸۱

(نمازي خاني)

Ketabton.com

هم غربت دی هم ستم هم احتجاج دی
ددې ټولو وجه دا ظالم سماج دی
سکون چرته ارام چرته قرار څنګه
په هرځای کې دخونې لیونو راج دی
لوټ یې کار، ظلم یې فرض دډوندون دې
هم قاتل دی، هم قاضي عجب رواج دی
څنګه امن، څه به مینه دلته راشي
یو انسان دلته دبل انسان محتاج دی
دا نظام دزور او زر و چې چپه شي
ددې ټولو بدبختو واحد علاج دی

دا سپیږې سترګې دې ټولې شي خپل ځان ته
چې ضرور به رسي زما جانان ته

ما خو تا ته وو کتلي غنیمت وو
زلزله کې لیونو کتل اسمان ته

داد ښکلو جوارې ده زړه بایله شي
یه ساده پردې کې څوك ګوري تاوان ته

خلك وايي چې پې مخې بې وفا وې
څه، چې دا پېغور وا پس کړي ټول جهان ته

ما ته خپل ګناه معلوم دي ساده نه یمه
زړه نخمو راوستی پسم شمسه ! زندان ته

۱۸ - دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سید و شریف

څوک چې د وطن د ننګ ، ننګ جنازه وباسي
دوئ به خلکه ! ښکله د فرنګ جنازه وباسي

دا لمبې د قهر سترومه ، امن ګورمه
زه داسې جنګ غواړم چې د جنګ جنازه وباسي

دا دنیا یې خدایه که عثمانو لره جوړه وي
راځي شي اجل چې د ملنګ جنازه وباسي

بیا د دار په سر د لیونو تماشه جوړه شوه
شمعه بله څه شي ، د پتنګ جنازه وباسي

شمسه وخت تېروس کوي د تول و پښتونو نن
مسته څوک خوشحال خان چې د اورنګ جنازه وباسي

۲۲ - مارچ
سنټرل جیل پیښاور

# کله خندا، کله ژړا

کله د خاورو نه با چا د ټول جهان جوړوي
کله د مشرې فرښتې نه لوی شیطان جوړوي

قلم ژوا خلې تقدیر ونه او ازل ولیکي
بیا څخو خلکو له د خپل لاسه نیزان جوړوي

تا د جنت د صفتونو نه کتاب ډک کړی
د ما شوما نو غوندې لوبې په ډیران جوړوي

زه خو به خود تندی په شوق وزه پښوکې ایږدم
خدایه! کله ته داسې ښایسته ښتان جوړوي

هینه کې هم ستا انتها ژته ښکاره پرته ده
چې جهانونه په برکت د خپل جانان جوړوي

۲۳ - سپتمبر ۱۹۸۱
(غازي خاني)

# دا ساینس؟

ساینس خدایه ددین دښمن دی، دا خوا ره تعامنی
لویه مسخره شتا د تخلیق ادم حوا منی
وی را ته مذهب د کائینا تو تحقیق کړی دی
عقل رد وی، را ته، د نقل تقاضا منی
بل خوا ساینس خېری د کائینا تو سینه وراندې ځی
خدا او فاصلی نه د مریخ نه د زهرا منی
غواړی ترقی دلته جنت اباد ول غواړی
بلـه د نیا نه منی فقط د غه دنیا منی
څه وکړم په دو دکي مرتبا له یم حیران یمه
عقل زما ساینس او عقیده می خدایه تا منی

Ketabton.com

سپوږمۍ شوه پېغله څېل ښایست راته ښودل غواړي
ستا جدایی کې ما په ځان مینول غواړي
څومره ساده خلك په دې کلي کې اوسي خدایه!
چې روح او تن سره په زور جدا کول غواړي
دا نادانی نه ده، نو څه ده؟ دکم عقل زړه ګي
چې په بې رحمه سترګو ځان په زور ویښتل غواړي
ستا مجبورۍ که د حالاتو تقاضي وي خېږدي
زما د مه شو که وختونه بدلول غواړي
زما احساس لکه د ګل په برخه هم تازه وي
کرم دې نه وي، خو ستم لږ کمول غواړي
ساده د نبکلو سره کله څوك په سر سګوي
دوی چې څه وايي بس هغه ترې اوریدل غواړي
شمسه! په دې وطن کې مینه په پیسو خرڅیږي
داغریبان خدای وهلي پوهول غواړي
جولای ۱۹۸۳

د عزت خپله سودا ده د عصمت ځان لره بازار دی
د زړه دا روپه کتاب کې د غه هم یو کاروبار دی
چې د حق خبره وکړي، د مظلومو نجات غواړي
هغه د لته مالیدلی یا کافر دی یا غدار دی
دا په څه گناه اسیرو، دا په کوم الزام یې وتړې
د غر ځوک دی چې هم خاندې هم ختلی پاس په دار دے
پیمانې د صبر ډکې، د غرور جام هم په زوره کې
د حالاتو سترگې سرې دي د تودې جگړې وار دی
چې څوک ظلم کړي باچا دی، چې څوک لوټ کوي امیر دے
عجیبه وطن کې اوسوا یماندار په دې کې خوار دی
د خدای په نعمتونو د قارون د بچو راج دی
د دوی ژوند د رحمت ډک وی، زموږ ژوند په اوږو بار دے
شمسه! ظلم دی، وحشت دی، هر خوا ستم ستم دی
که د سربازی کوی شې نو د جنگ میدان تیار دی

جولائی ۱۹۸۳ ( غازی خانی )

# د زندان ملګري

د سوات جيل کې زه، رحيم زاده باچا، غفار، رضا شاه باچا شاکر بونيري ـ ډيره يو. د ژوندو ختونه صبا کوو. ما دا شعرونه د دوی د يادونو په سلسله کې وليکل، غواړم چې نور خلک ترې هم خوند واخلي.

۱۸ ـ ډسمبر سنټرل جيل سوات

د کور کلي نه لرې موږ په تور زندان ډېره
وختونه تېروو کله خفه کله خوشحاله

د سوات يخه هوا ده او ژمی يخ موسم دی
يو غم نه وي اسمان کې، بل په موږ هسې غم دی

چې سيان بنګيان موخواته دي، زموږ ورور چېرې دی
دوه څې څلور راځي موږ پراته يکې سپين يو
د کور کلي نه لرې موږ په تور زندان ډېره يو

زما خلور ملګری یکې رنګ په رنګ خوبونه
دچا مرچکی خوبښ دی دچا بدی شی دالونه
دا یو شریک صفت لري چې ټول اوري خبرونه

چې چرته څوك رهاشی موږ دلته شوا تماله
وختونه تیروو کله خفه کله خوشحاله

زموږ یو ملګری رضا شاه دهزاري دی
بو چې ده د خندا په زړه غریب اري اري دی
په شوق کې راغلی ، خوار راوستی یونعري دی (۱)

پهر يې خپل قسمت دی خوبه جیل کې ورسره يو
دکور کلی نه لری موږ په توره زندان ديره یو

غریب په ملاقات پسی دادوه سترګې څلور کړي
بابا به يې هم مغرور دی ، دهغه پښتی به کور کړي
دوړ چې سګرټ څکی ؛ دسږي غبار ته غوږکې شور کړي

---

۱ــ د M.R.D د مومنټ په سلسله کې په منګوره کې جیل خان ګرفتاري ته پیش کړی وو .

چې کوږ وږ ته وړیا دشي خوارکي شي ډیر ملاله
وختونه تیر وو کله خفه کله خوشحاله

غفار موږ ملګري او سید ونکی د باچا دی
دی و روز ملود وست (۱) ، دی او ملګري د باچا (۲) دی
د کوږه براهد شو ، نه دشورا نه د غوغا دی

راځي په غم ماچس کې موږ دده په ننداره یو
د کوږ کلی نه لري موږ په تور زندان دیره یو

دده په خیال کې ویم تور ونه پټ پراته دی
دده سوي سینه کې امید ونه پټ پراته دی
خواوس دده په بیګ کې بسکټونه پټ پراته دی

موږ پرېږدي جیل ته لاړ شي د عزیز (۳) دی مشغولاله
وختونه تیر وو ، کله خفه کله خوشحاله

---

(۱) ، شاه رضا خان د باچا (۲)ـ رحیم زاده باچا تخته بند

(۳) ، عزیز او جهان زیب کاکا زموږ دوه ملګري دي چې بره په لوئي جیل کې زموږ نه جدا اوسي .

یوبل زمون ملګری چي په خوی کي شهزاده دی

زموږ د ټولو مشر ملا حاجي رحیم زاده دی

خوش پوشه، خوش خوراکه په رښتیا نواب زاده دی

چي راشي دسترخوان له اواز وکړي چي پوره یو

د کوره کلی نه لری مونږ په تورغندان دیره یو

دده رومبی ځل دی دده جیل نه مزغی مات دی

خوښه ده هره پوړنه دی چي جیل دلته په سوات دی

پریشانه به وو ډیر، خوښه ده تینګ په ملاقات دی

لګیا دی راته وایي ځان خبرکړه د اخواله

وختونه تیره وو کله خفه کله خوشحاله

شاکر زمون سړی دی، جیل کي سنه په اخلاص تنګ دی

خه نو رخه کار یي نشته هر وخت ملا سره په جنګ دی

راغلی جیل ته دي دهغه زوره ژوندون په تنګ دی

Ketabton.com

چې پوښې دي ناجوړ ټول پراته په بستره یو
دکوډګلي نه لرې موږ په تور زندان دیره یو

یا څې سحرناوخته د خپل کوډ هغه عادت کړې
توسټونه شپږ اته خورې د معدې نه شکایت کړې
په بنه ترکارۍ تل د ملنګۍ[1] کافي صفت کړې

موږ ټول ترې نیوسونه کړو چې څه کیږي صبا لـه
وختونه تیروو کله خفه، کله خوشحالـه

یوزو یا ټیکولا کلد کتاب، کله ګولۍ دي
کولـې نیسم په لاس کې کله درد کله التې وي
راوستي مې سپین مولۍ ټول یاران په شاعرې وي

یا خوب کړم، یا خوراک کړم، یا په بله مسخره یو
دکوډګلي نه لرې موږ په تور زندان دیره یو

---

[1] ملنګۍ زموږ مشقتي دی. د باجوړ او سید ونګی دی او دوه نیم کاله قیدي د پرته ترکاري بخوی

چې کینم دسترخوان ته کار و باسم خوراکي يم
چې راشم په خبرو دوېتنام انقـــلابي يم
نه مونږ شته ، نه او درشته ملاوایي چې «وای»[1] یم

راځئ یاران راوړي ګولی دخپلی ډيری ماڼـه
وختونه تېره وو ، کله خفه کله خوشحـــاله

دا جیل هم عجب ځای دی مختلف خلك راټول کړي
دعقل خاوندان په کې دهر یو سړي تول کړي
دا جیل هم ډیر عظیم کړي ، بستري د ډیرو ګول کړي

مونږ هم ددې جیلونو په کړم او په اسړه يـو
دا هم یو امتحان دی څوك کامیاب کړي څوك ملاله

---

(۱) دجیل پوطادی ویرواو زړوته سبق وایي او ځوانان تری پتیږي ماته همیشه په ګزو ستر ګو ګوري .

دکور کلی نه لری ، موږ به تور زندان دیره یو
وخـــتونه تیره ، وو کله خفه کله خوشحاله

۱۸ - دسمبر ۱۹۸۳

سنټرل جیل سیدو شریف

Ketabton.com

علم هغه چې ماحول نه پرې اګاه شي
چې په ژوند کې د تولنې په کار راشي
کمیت په کیفیت کې منتقل شي
دیونوی خواص یل مظهر پیدا شي
شرایط چې برابر شي دا قانون دی
امکانات په صداقت کې رونما شي
د لزوم او جار نوی ځان ته حالات وی
نو پیدا شي هغه وخت چې بل فنا شي
عمل تله - صداقت پرې معلومیږی
شمسه ! هیڅ نښته که دا جدا جدا شي

۱۹ - دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سیدو شریف

هیڅ پوه نه یم په سترګو مې داغونه لګوي
چې اوښ ونه شي دوی په ما مهرونه لګوي

ګلونه بویول دلته کې جرم دی قسم دی
ازغي مې په لاسونو شل چکونه لګوي

حقونه خوارې کښتو له غوښتل زما ګناه
فتوې چې ملایان په ما لکونه لګوي

غربت دومره زور شوی دی څو ټکو د پاره
انسان د بل په پښو کې خپل سرونه لګوي

بلا د سپرلي واخله زاهد هم تسبې په لاس
د ښکلو جوارې کې نن داوونه لګوي

پرون دې شمسه! ستا زړه د بنو په عشق ښکار
نن بیا لیونی سترګې نور ښکارونه لګوي

۱۹ ـ دسمبر ۱۹۸۳

سنټرل جیل سیدو شریف

یوه لاره د خپل ذاتي مفاد تکمیل کړي
بله لاره د ټول اولس د ننګ تجلیل کړي

حرص څه بده بلا ده، کوړیي وران شه
سکندر و نه یو هابیل کړي بل قابیل کړي

انقلاب برامد کیږي نه دروغ دي
دا شیان نه دي چي څوک به یي ترسیل کړي

دا جیلونه به دي وخوري کسه خطا څي
چي څوک سم څي تل هغه خلك جمیل کړي

شمسه پوه یم د هغو دي الله مل شي
چي د ښمن د خپل ژوندون او ځان کفیل کړي

۲۰ ـ دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سوات

نه مې دولت نه مې ایمان په کار دی
د زړه سکون له یو انسان په کار دی

نه سر ټیټوم نه بچنو نه غواړم
ما لیونی له سور نیران په کار دی

په زړه یهود دی او په سترګو فرنګ
ما له هم د غسی جانان په کار دی

ما له د ده د نشو سترګی بس دی
هغه له تخت د شاه جهان په کار دی

ما او ر بیدلی دی چې زن په راځي
شمسه دا و بنکو چراغان په کار دی

۲۱ - دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل پشاور

زه شاعر نه یم غزل نشم لیکلی
او نظمونه هم دچل نه شم لیکلی

بوداشوی یم دزړه زواک می اوبه شو
اوس دجونو په اوربل نه شم لیکلی

د شرابو مستۍ څه کانی دی وکړې
لاس می ړپی خپل عمل نه شم لیکلی

دزړه وینه می ستاشعر لره ورکړه
دغه بس دی یاره بل نه شم لیکلی

شمسه! څه خوارۍ می وکړې، خوعبث ده
ژوند می خوبنی دی په اجل نه شم لیکلی

۲۲ - دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل پېښاور

ښکلا مې د ننه په شاعر زړګي کې اور پیدا کړي
زړه مې سینه کې ماشوماتو غوندې شور پیدا کړي

د "خدای فقیر" هم ماشومان دلته په کاتو ولي
څوک به په دې کلي کې شپې د یاره کوه پیدا کړي

میا به زموږ نه زاهدان ساقي له وړاندې ورځي
که ښکلي ، ښکلي میکدې له د و خلوه پیدا کړي

یو بوسه د ا ننګو زما د درد علاج دی
زه په اور سوی یم ، جوړیږم که څوک اور پیدا کړي

شمسه بدبخته ! ستا منت او زاري ډېره نیسي
خلک خه بد دی آشنائي خاله په زور پیدا کړي

۲۳ - دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سیدو شریف

چې صبا یې شي زغملی پوهه ځان کړي
نن هم دوم ظلم وکړي کاروان کړي
د تاریخ پا یه په شانه ځي کم عقلو
ځان په ستړي کړي زموږ به څه وران کړي
بیا به ستاسو په بېن بیرته اوده نه شي
چې راویښ پوځل په ځان پسې ماران کړي
د اولس د غیظ غضب نه به خلاص نه شئ
که را یاد د غدېځروا زه (۱) پیران کړئ
شمسه نوره د ظالمانو زوره تېر ي
د وخت چغه ده خبر یې مظلومان کړي
۲۳ ـ دسمبر ۱۹۸۳ سنټرل جیل سیدو شریف

(۱) امریکه، فرانس، جرمني، جاپان، برطانیه

# دامن خیال

چېرته داسې جزیره به پیدا نه شي
اوازونه د بمونو په کې نه وي
د جنګي جازونو د اشور و غوغا چې
د غوڅیانو لښکرونه په کې نه وي

کارخانې وي ، خو انبار د وسلو نه وي
ورورولي وي ، هیڅ خطر د حملو نه وي

دا نیوترون چې هلاکت دی د سوونو
مزائیل چې تباهي ده د ملکونو
هلته دا وسلې او دا څیژونه نه وي
ښه افراط وي د ژوندون د سامانونو

د ژوندون سندره هر سړي ویلی
د جنګ نوم هلته هیچا نه پیژندلی

Ketabton.com

امن، امن، خوشحالی وی، ښه لذت وی
یو د بل سره ئې حده محبت وی
دا زما او ستا دویش خبره نه وی
اعتماد وی هلته ژوند د مسرت وی

یو چې تلی بل یې د ځان سره بوتللی
یو د بل په محنت لوبې منه کولی

د غم خیال په حقیقت کې بدلیدی شی
دا "جنګی مسئلې" داخل را پیژیدی شی
د جنګ اور ته چې لمن وهی په زوره
دا امکان شته چې اوس جنګ په شا کیدی شی

د ظلمو په خولو نهی کې یو شعار دی
د جنګونو لوی دلال د ژوند غدار دی

لږ کوشش خلکه په دې لړ کې په کار دی

اوس د امن کیمپ پیاوړی دی تیار دی

خپل اواز د جنګ په ضد تیزول غواړي

د دوی دور تېر شو اوس زمونږ وار دی

بیا مبه ټوله دنیا داسې جزیره شي

بیا به دا ژوندون او دا دنیا خوږه شي

په هر ساز کې به د امن ترانه شي

د جنګونو مور به تل د پاره مړه شي

۲۰ـ دسمبر ۱۹۸۳

شتهزل جمیل سید و شریف د سوات)

Ketabton.com

# گرانی

یو گرانی ، بل پابندی ، د رږیم وحشت دی
هرطرف ته د جرنیل باچا ګرځدی دی
د پوځیانو حکومت دی ، نور څه نشته
یا زندان دی ، یا کوړې دي یا ګولۍ دی

# زما چغه

والله چې ساه به مې زندان کې واخلی
ولی په خدای که زما چغه مړه شی
منم چې ته د تشدد اُستاذ يې
ولی والله که مې جذبه سړه شی

# حساب

اې د زړې بیدارو خلکو وارې
زه سرو سپرلی ، سور انقلاب غواړم
ګناه مې داده د خوږو لیوو نه
د خپلو سرو وینو حساب غواړم

۲۵ ـ اکتوبر ورېک تار چرکیمپ

# ایلم ته

د سحر باده ورځه ایلم ته وایه
ستا د بن طوطي بندي دي متني کې
باد د ډنګو څوکو پرېږده چې راډرومي
چې ساه راشي د زندان په لیوني کې

# بې شکه

بې شکه چې مې اوس په زړونو کې بندوي شي!
مانې د دار په سر هم بې قصوره ځنګوي شي!
قلم مې سوزوي شي، اخیستي شي، ماتوي شي!
خو ذهن مې نادانه! په والله که بندوي شي!

# پاک یې نشته

که ظلم، که ستم دی که زندان وي پاک یې نشته
غضب مې خبر نه ځان ته په زور تازه کوي
چې دار پله مو بیا یې ساډتوب نه دی قربانه
خوله واړه بخري د سوراو رتازه کوي

۱۸ ـ اکتوبر ۱۹۸۰ متنی حوالات

# پابندي

په خیالونو پابندي لګول غواړي
ساده ګان دي ځان په زور غولول غواړي
دا په موږ لیونو چې یې لاس چوت کړ
سړی مې چې ځان ته په زور پاړول غواړي

# مدعي

د اقتدار په کرسو ناستو واورئ
مدعي لیکل موږ ازده کړي نه دي
د تیښس نشه یو د باتوریچی یو
شرت ګرول موږ زده کړي نه دي

# ورسک

د وحشت او د ظلمت تیري دي
ورسک نه دي قتل ګاه دي د ځوانانو
خو چې سر زړه د لته راشي نو پاسه شي
دا مکتب دي د ځینو انقلابیانو

۱۳ اکتوبر ۱۹۸۰ ورسک تارچر کیمپ

Ketabton.com

## مړدی شم

که مرم دلونی مړدی شم خو د الاس قلم ړدی
والله چي دقارون په خزانو نه بدلوم
دزړه ترجمانی کوی ځما د خیال اشنا
زه تا د ادم چي په کار خزانو نه بدلوم

## سره گلونه

دا زما دبدن وینه وړله ورکړی
دي غوتونه به هم سره گلونه جوړشی
دخزان سپیره باد ونه به ترخوړی
یوه ورځ به د سپرلو وختونه راشی

## ستاجنت

ستا جنت ستا شراب ونه ستا باغونه
دا شنه د هغه دوه سترگونه زار شته
خپله خوروسپی مړشوی ملاجانه!
ما ته وایي چي د نوشوسند قلارشه

۱۹- اکتوبر ۱۹۸۰
متنی حوالات

## قلنګ

دا قام او دا وطن د ربا ندې حق لري نو وایې
قلنګ مو د ځوانۍ یو څو کلونه اوسیږي
چې ستاسو په محنت باندې یې شان دې قایم کړي
یارانو دغه د ننګ سپین مخلونه اوسیږي

## آدم خوروته

موږ په مرو عزمو کې وسوزو کاروندکو
تاسو زموږ په زحمت د ژوند سلطانان جوړ وی
ادم خوارۀ یې د ژوند حق نه لري ظلم کوی
زموږ په سرو وینو د خپلو ماڼونو شا جوړوی

## دخیټې غم

د خیټې غم راله کولی نه شي
ما د دنیا په رنګینو تیر باسي
شیخه د دې مرض دوا نه لري
ما د فریب په مسئلو تیر باسي

۲۳- اګست ۱۹۸۰
لیډی ریډنګ هسپتال

Ketabton.com

## نجي ملکيت

ته د څو کسو بـــادارى په ټولو خلکو غواړې
زه د خوارانو د ښېګړې حکومت غواړمه
چې د نجي ملکيت زيلي د سماجه لرکړي
د کسانانو مزدورانو امريت غواړمه

## داړوند

څې چې دا کاسې د ظلم کړو ونسکورې
زندانونه به په خپلو وينو سره کړو
چې بيړو او زنځيرونو کې تيريږي
په بلادې شي په داسې ړوند به خه کړو

## انصاف

نه انصاف شته، نه ائين شته، نه قانون شته
د خوارانو غوښې د لته کې غټان خوري
دا زله دا خپل حق ګڼې بې پـــــرسه
لکه غټ کب چې واړه واړه کبان خوري

۱۷ فروري ۱۹۸۱
سنټرل جيل هري پور

## څوانی

دځوانی د لیونتوب نشه خبر نه یې
زړه دې نښته مینتوب نه خبر نه یې
د دوزخ به اور به تا سېزلی نه وی
خودیاره دغین دخوب نه خبر نه یې

## سپرلی او ښکلا

هم سپرلی وی، هم ښکلا ده، هم شراب
هم لیلی ده، هم ثواب دی، هم عذاب
دایمان ساتنه گرانه شوه واعظـــه!
هم شیطان دی هم شتاب دی هم شباب

## بلاگانی

یو کاسه نسیه شراب به د زړه وی
راګیر کړې یم ساقی بلاغمونو
دغه یو علاج یې بس راته معلوم دی
نه جاروزی بلاگانی په دمونو

۲۰ ـ مارچ ۱۹۸۱
ښهزل جمیل همدری پور

## شیخه

شیخه وزګاریې، ذکر وکړه، لړتسبي واړوله
ښه خوراکونه خوره، جومات کې شاپړي زمانه کېږي
حوري وېشه، غلمان ستا يه، جنت له میوې ک کره
د خولې خبرې دې کوه، ستا پړې تاوان نه کېږي

## زما غضب

زما غصه د ظالـــمانو په زکوٰة سړوی
زما غضب په حدیثونو د مشکوٰة سړوی
يه ملاجانه! ستا په مکر او ریا پوهېږم
تا وده جذبات د مظلومانو په ایات سړوی

## ژوند سندره

راشه د ژوند خبرې وکړه د ژوند و دنیا کې
پرېږده د مرګ او د عذاب خبره څله چېړې
داد و همونو فلسفې په سندره لاهو کړه
ته رو غو خلکو ته د رنځ سندره څله چېړې

۱۹- نومبر ۱۹۸۳
سید و شریف ستړل میل

Ketabton.com

**فلسفه**

دا ازل نه د ثبات ذکر کوونکیه
دا بده دا ساتل ستا فلسفه ده
د حرکت په راز کې د ننه تکامل دی
لیوني را ته منو دلې مسئله ده

**ضدین**

د تاریخ په هره پاڼه کې پرته ده
خو نظر دی ودانا ور له په کار دی
د ضدینو په جګړه کې یې ټول راز دی
دا چې چا وپیژند و هغه هوښیار دی

**ارتباط**

ارتباط د جدلیاتو یو قانون دی
جدایي که نه ژوندون نه ارتقا شته
علم وایي زما حد پراخ کړئ خلکه
زما مخکې نه مریخ شته نه زهره شته

۲۳ دسمبر ۱۹۸۳
سنټرل جیل سید و شریف

## سرې شونډې

دغه سرې شونډې دي وينو تکې سرې دي
که نه زما د ګل چاودلي دي شبنم ته
ستا د دوه شرابي سترګو نو څه کار شته
که دا پيدا دي ښکليه زما غم ته

## زندان زما مسکن

هر قدم کې د پنجرو دروازې لري دي
ليونی زړه مې په څه بلا مين دی
ځکه زړه مې په شعرونو کې ستايمه
دا زندان خلکه زما دوهم مسکن دی

## دا پنجره

دا پنجره و بنده د سکون دې لپاره م دي
ستړې شوې دمه وير بهر چمن کې
هسې هم زندان زندان دی پابندي ده
ازادي تش په نامه ده په وطن کې

۱۷ - دسمبر ۱۹۸۳
پسنتهل ميل سيدو شريف

PROPERTY OF ACKU 2693

گڼه (۲۸۷)

( مطبعه دولـتی )

Ketabton.com